# اعلان

ګرانو او قدرمنو لوستونکو پښتو ډاټ نیټ د دې کتاب سره ډیره خواري کړې ده او په ډیر عاجزانه طور ئې تاسو ته دَ مطالعې په غرض ډالۍ کوي د دې کتاب بې اجازت نقل کول ، چاپ کول یا زمونږ نسبت ترې لرې کول نه صرف دا چې اخلاقي جرم دے بلکې ډیر سخت منع دي

**Presented By :**

**Pukhto.Net**

**NOT FOR DISTRIBUTION WITHOUT WRITTEN PERMISSION**

**• CONTACT:**
rum_n_rythems@hotmail.com
webmaster@pukhto.net


یاران هیڅ نه وايي
پښتونستان
Presented By:
Pukhto.Net
پروفیسر محمد اسلام ارماني

# TO WHOM IT MAY CONCERN



پروفیسر محمد اسلام ارماني

**Political Agent**
**MALAKAND**

This is to certify that Mr Mohammad Islam Armani has been the moving spirit behind Pushto Adabi Tolona in Malakand Agency. He had the ability to get together people for noble causes. He has sterling human qualities and I recommend him as a fit person for every noble chore.

Political Agent, Malakand
30-12-74

پروفیسر محمد اسلام ارماني ته د اعجاز رحیم صیب له خوا د ورکړی شوي
تعریفي سرټیفیکیټ عکس

ټول حقوق د مصنف په حق کې محفوظ دي


| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | : | باران هېڅ نه وايي |
| لیکوال | : | پروفیسر محمد اسلام ارماني |
| کتابت | : | لطف الله خوشنویس، پېښور |
| کمپوزر | : | ذبیح الله "شفق"، پېښور |
| ټائټل | : | مراد ارټسټ، مینګوره، سوات |
| د چاپ کال | : | مارچ ۲۰۰۰ |
| د چاپ ځای | : | دانش کتابخانه، قصه خواني، پېښور |
| شمېر | : | اته سوه (۸۰۰) |
| بیعه | : | ۴۰/ روپۍ |


## خورځنکي

- ✓ دانش کتابخانه، قصه خواني بازار، پېښور
- ✓ شعیب سنز پبلشرز بک سیلرز، مینګوره سوات
- ✓ یونیورسټي بک ایجنسي خیبر بازار، پېښور
- ✓ مکتبه سرحد خیبر بازار، پېښور
- ✓ پښتو ادبي جرګه ملاکنډ، درګۍ بازار، ملاکنډ ایجنسي

په ګل ورینه زمکه اُوربل دې ملبې تړې خیژي
په سرو ملبو کښې زندګي ده یاران هېڅ نه وائي

---

# تړون

---

د هغه ملګرو په نوم
چې په سرو ملبو کښې هم
د تړون دپاره هلې ځلې کوي

ارمان

# فهرست


* یاران څه وایي — رحمت شاه سائل
داکتر خالق زیار — ۵،۶،۷
پروفیسر صاحب شاه صابر

* د محمد اسلام ارماني د شاعرۍ دویم دور
داکتر فضل دین خټک ۸-۱۸

* غزل زار : د ۱۹ مخ نه تر ۵٦ مخ پورې
* نظمونه : د ۵۷ مخ نه تر ۱۲۰ مخ پورې

| | | |
|---|---|---|
| * د مرګ سوداګر | * خوارډ یادونه | * پښتو او پښتون |
| * ګوداګی | * بغاوت | * اختر |
| * رنګونه | * زنا | * مزدور او زه |
| * تپوس | * جداي | * نغمه |
| * اٰئینه مانه شوه | * مرام | * زما جانانه بې وفا جانانه |
| * اوازونه | * د کابل ښار | * د حمزه بابا په یاد کښې |
| * څلے | * فیصله | * ملګرو نه خو، پښتنو نه خو |

## یاران څه وایي

# مینې چې کم طرف ته مخ کړی انقلاب راولی

زما په بې حسابه ډېرو دوستانو کښې د ارماني د مهربانه شخصیت روح، مینې او یاد تل په ما غږ کړی دی. چې

که دا ستا د ښکلي مخ عاشقان ډېر دي
زه پــــه تولو کې اول یم دویم نه یم

زما او ارماني د مینې او دوستی تاریخ په څو څو کلونو خور دی. دا حساب نه ما کړی دی او نه ارماني ځکه چې مونږ دواړه شاید په دې حساب کښې ډېر نالایقه یو. خو زمونږ د ژوند او مینې نن دی که پرون د یو بل داسې اینې دي، چې په یو بل کښې ښکاري هم. خو کومه اینه په کومه اینه کښې ښکاري؟ دا پته نه ماته شته نه ارماني ته.

د ارماني یو کتاب " دا کاني او دا کوڅې" دوه ځله چاپ شوی او خور شوی دی دا وړه خبره نه ده. د پښتو ژبې او ادب سره د پښتنو بیګانګی په دې روان دور کښې دا د زړه غټاوې خبره ده. د ارماني د پاره هم او پښتو ادب د پاره هم د ارماني د شخصیت او شاعری پېژندګلوي د پښتنو په تولو سیمو کې موجوده ده. سره د دې چې د ده د شعر د خورونې ذرائع لکه د نورو پښتنو شاعرانو ډېرې محدودې دي. د پښتو د ځینې اخبارونو او رسالو نه علاوه په ریډیو او تیلي وژن د هغه څه نه څه کلام خور شوی دی او یوه شعري مجموعه یې چاپ شوی ده او هم په دې حوالو یې د کوئیټې، پېښور او کابل افغانستان په تولو ادبي حلقو کښې یوه ادبي پېژندګلو جوړه شوې ده. د ارماني د شعر په رنګارنګی کښې که هر څو د خپل جدید د هر یو صنف نمونې به ډېرې شته دی، خو په دې تولو د ده آزاد نظم زیات ښکاري

د ده ازاد نظم د هر څه نه آزاد نه دی. د ده په آزاد نظم کښې چې د آزاد نظم کومې پابندی دي. ده د هغې تولو پوره پوره خیال ساتلی دی د ده آزاد نظم ځکه په لوستو کښې خوږ او اسان راځي، چې یو پکښې د "لې" خیال ساتلی شوی دی او بل پکښې ابهام بیخي نشته. ارماني د پښتو ژبې او ادب یو داسې متحرک خدمتګار دی، چې چرته هم پاتې شوی دی هلته یې د پښتو د مینې کر کړی دی.

د اندېش په قول: وی مې چې هر خوا ته دېکاته او تلې
وې ویل چـــې ما د ښکلا کر کاوو

او د اکرام الله ګران په قول "مینې چې کوم طرف ته مخ کړی انقلاب راولی"

رحمت شاه سائل

۲۲ دسمبر ۱۹۹۹

# فن او شخصیت

د پروفیسر محمد اسلام ارماني شخصیت ګڼ اړخونه لري. معامله فهم، مجلس جوړي او د پښتني تولني په تول پوره سړی دی. د دوستانو د پاره د باور وړ او خواخوږی نمونه ده. د خپل ژوند یوه لویه او اهمه برخه یې د علم د رڼا په خورولو کښې تېره کړې ده، خو د شهرت بنیادي وجه یې ادبي لیکنې او شاعري ده. ارماني صیب ډېرې په زړه پورې افساني لیکلې دي. په ورځپانو او ادبي رسالو کښې یې یو زیات شمېر ادبي مضمونونه او مقالې چاپ شوي دي. د ادبي تنظیمونو په جوړولو او عملي هلو ځلو کولو کښې یې د یادونې وړ خدمات سرته رسولي دي. همدارنګه په ادبي غونډو کښې د ګډون د پاره یې خان د پښتونخوا ګوټ ګوټ ته رسولی دی.

اګر چې د ارماني صیب نثري لیکنې نه خو په مقدار لږې دي او نه د معیاره پربوتي دي ولې بیا هم د شعر په ډګر کښې د هغوی کار نسبتاً زیات بارز او ښکاره په نظر راځي.

د دې نه وړاندې یې د شاعرۍ دوه کتابونه "دا کاني او دا ګوټي" او د رڼا سیورې" چاپ شوي دي، چې اوسنۍ یې شعري مجموعه ده، چې د تاندې ځواني د دور غزلې، نظمونه او قطعې لري او دویمه مجموعه یې په نعتیه کلام مشتمله ده اوس په دې دریم کتاب " یاران هېڅ نه وایي" کښې ي د نوو او خوږو غزلونو نه علاوه آزاد نظمونه هم په زیات شمېر کښې موجود دي. بې شکه چې د دې کتاب ټوله شاعري د ستائینې وړ ده، خو آزاد نظمونه یې د معیار په حواله خپل مثال پخپله دي د آزاد نظم عمر به په پښتو شاعرۍ کښې په مشکله پنځوس کالو ته رسېدلي وي، په دې موده کښې ډېرو شاعرانو آزاد نظمونه لیکلي دي، خو اکثریت یې داسې دي، چې د موضوع او تکنیک د نظره د آزاد نظم تقاضې نه پوره کوي. البته د ګوتو په شمېر یو څو شاعران داسې دي، چې هغوی د دې صنف پوره پوره حق ادا کړی دی او په دغه شاعرانو کښې یو پروفیسر محمد اسلام ارماني هم دی.

ارماني صیب په دې خبره پوه دی، چې د تولنیزې ودې او ارتقا په یوه خاص مرحله کښې په پښتو ژبه کښې د آزاد نظم ضرورت ولې محسوس شه او د دغه ضرورت د مخې څه څه قسم موضوعات د آزاد نظم د پاره موزون

کېدې شي همدا رنګه هغه په دې حقیقت هم پوه دی، چې آزاد نظم لیکل د قاعدې او تکنیک د نظم د پرانستو غوانو غوبل نه دی، بلکې د خپل جمالیاتي حُسن د پاره د یو خاص "وزن" او "لې" په تاګلې لار روان دی. هم دا وجه ده، چې کله سړی د ارماني صیب آزاد نظمونه ولولي، نو دې نتیجې ته اورسي، چې که څېړې شاعر د آزاد نظم د مزاج نه خبر وي او د لیکلو په تکنیک یې پوهېږي، نو د لوستونکي جمالیاتي تنده هم داسې ماتوي لکه پابنده شاعري

داکتر خالق زیار ۲۳ دسمبر ۱۹۹۹

## محمد اسلام ارماني د خپل آزاد نظم په ائینه کښې

چې کله هم د نني پښتو شعر ذکر کېږي، نو د محمد اسلام ارماني نوم به اخستې شي، خو چې د آزاد نظم تاریخ لیکلې شي، نو دغه نوم به په ډېر درناوي یادېږي. ارماني پخپله شعري اثاثه کښې ځینې مشهور غزلیه شعرونه لري او څو پابنده نظمونه یې هم د پښتو د نوي نظم د معیار سره سم دي. خو آزاد نظمونه یې ډېر ښه لیکلي دي، ګو چې هغه طبعاً باغي او سرکش سړی نه دی، خو د غښتلي سماجي شعور خښتن فنکار دی د خپل دور په شخصي او انساني مَسلو څه نه څه اظهار خپله ذمه واري ګڼي د ذمه واري دغه احساس د آزاد نظم په لور سم کړی دی او څېړې سمون خورلي دي. څکه چې زړه یې د انسان دی او تخیّل یې د شاعر دی د تخیل او سماجي شعور په ګډون یې د آزاد نظم په پیرایه کښې د خپل دور د مَسلو او میلاناتو پحقله خپل جذبات، احساسات او نظریات په داسې ډول بیان کړي دي، چې د یو تجربه کار شاعر فني پختګي هم لري د تخیل تازګي هم لري او د غښتلي سماجي شعور رڼا هم لري د ارماني په نظمونو کښې د دغه شعري او شعوري کیفیاتو له کبله هغه په پښتو کښې د آزاد نظم لیکونکو په وړومبي صف کښې ولاړ دی

صاحب شاه صابر
۲۳ دسمبر ۱۹۹۹

# یاران هیڅ نهٔ وائي

## د محمد اسلام ارماني د شاعرۍ دوېم دور

ارماني صاحب د يو ډېر ژور احساس د يوې ډېرې ژورې
مشاهدې او د يو ډېر دردېدونکي تاثر اظهار په ډېر زړهٔ راښکونکي
انداز کښې کړے دے . هغه دا تپوس کوي چې د هغهٔ د قلم ملګرې
په هغو حالاتو واقعاتو او حادثاتو ولې څهٔ نهٔ وائي چې د ارماني
د مينې ډک زړګي ئې په اور نيولے دے او هم دغه غريو نيولي
زړهٔ نهٔ چې کله د سرو وينو قطرې او څاڅي نو د شعر په
جامه کښې نغښتلے دسپېلي د ګلونو د شعر بناسته او ښکلي ګلونه
راوتوکوي او په هر لور خپلې وږمې خورے کړي خو ياران
څهٔ او کړي . د هغوئ هم ډېرې مجبورئ دي . يو خوا د بناغلي
ارماني سره د زړهٔ ياري خپلې تقاضې دي او بل خوا د قلم
خپلې تقاضې . خو دلته مونږ خبره د هغهٔ د شاعرۍ کوو .
نو د قلم تقاضې به او منو . او د ارماني صاحب د شاعرۍ په
دوېم کتاب " ياران هيڅ نهٔ وائي " به خبرې اوکړو .
دولس ديارلس کاله وړاندې چې کله ارماني صاحب خپل او لنے

شعري تصنیف " دالاني او دا کوڅې " چاپ کړو - نو هغه وخت
ارماني صاحب په صحیح معنو کښې د خوږې مینې ارماني وُو - د وفا ارماني وو - د ښائسته سترګو او د خوږو زنفو ارماني وو - او اوس چې ارماني صاحب کومه شاعري تنقید ته وړاندې کړې ده نو په هغې کښې د مینې نغمې د خیال نزاکت او د شعر اسلوب سره سره د ماحول ترجماني د حقیقت اظهار او مقصدیت لوړوالے هم شته دے - په دے پس منظر کښې که مونږ د ارماني صاحب د اولنې غزل جاج واخلو نو په ښکاره ډول به مقصدیت په فن باندې غالب ښکاري - په غزل کښې د تاثر یو والے موجود دے یو شعر د بل ترجماني کوی او په مجموعي ډول یو نظم نما غزل ښکاري چې د خپلې خاورې او د خپل وطن د تباهۍ او بربادۍ پس منظر پیش کوی -

ــه

هره کوڅه کښې چې غوغا ده هر یو کور کښې ژړا
غم د هر چا په اوږو بار دے خدایه داڅه چل دے
څوک وائي چې دلته ورورولي وه مینه هر ځائې
دلته خو بل شان له روزګار دے خدایه داڅه چل دے
ارماني چاته زړې غمبنې د خپل ښار او ښائیم
تاله ترغۀ نے هر بازار دے خدایه داڅه چل دے

او هم د دې ویرجنو حالاتو نقشه په یو بل غزل کښې څومره ښائسته الفاظو کښې جوړه وی - د وخت مجبورۍ د قلم پابندۍ

هغه په دې ډېرنا مجبوره کړي . ــه

ــه

ژبه مې ترڼلې ده وختونو وخت به راشي
بیا به دجونګړې او محل خبرې اوکړم
ګرم د ے ارماني چې ئې ستاینه ستا اونه کړله
ځنګه په د ے حال کښې داوربل خبرې اوکړم

غالباً داهغه دور وو چې پکښې د ړ فنکار ژبه تړلې وه او
د ړ یو لیکونکي ګوتې غوسې وے .

ــه

مونږه دزړه دنول خبرې چاته ځنګه اوکړو
په پټه خوله هم یاران ذکر دسبا نهٔ کوي
اوس به په هرځلې دیاد ډیوې داوښکو بلوم
پوئې شوم چې دلته کښې څوک چاسره وفا نهٔ کوي

دانښکلے غزل د ے . د ړ مقصدیت لري . ساده او زړه راښکونکے
د ے خو د غزل دوېم شعر په خپله اولنۍ مصرعه کښې دخپلې
علاقائي لهجې غمازي کوي . څه رنګ چې نقادان دعبدالرحیم
مجذوب صاحب او دغني خان په شاعرۍ کښې دکلي والې لهجې
استعمال په ګوته کوي هم دغه شان د "بلوم" توري د
ملاکنډ دسیمې دکلي والې لهجې یوه نمونه ده . البته دسُور
سپرلي ذکر لکه دنورو انقلابي شاعرانو بناغلي ارماني هم په
د ړ فخر کوي چې درجائیت په زړهٔ پورې تاثر لري :

مونږ چې خپل وران کلي ته یو ځل سور سپرلے راولو
کا غذي ګل به په ګلدان کښې بیا خندا نهٔ کوي

هسې خو د کلي ذکر هر یو شاعر به خپلو غزلو کښې کوي خو ارماني صاحب لکه چې د مسافرۍ سختو دومره زېږلي دے چې د کلي ذکر ئې دخولې نه نهٔ پرېوځي . ځکه خو ځائې په ځائې خپلو غزلو کښې د کلي ذکر کوي او بیا خاص طور د جانان کلے پرې ډېر ګران دے .

ـه

د کلي اووتمه ستا کلے مې خپل نهٔ شولو
په د زړهٔ سره دهیچا کلے مې خپل نهٔ شولو

او بیا وائي ـه

لارې چې بند شوې د جانان کلي ته
ګرځه به اوکړو د ارمان کلي ته

او د کلي په حقله ئې دا شعر هم د لوستو وړ دے .

ساه به مې لاړه شي خو ستا کلے به پرې نهٔ بږدمه
ډېر په ما ګران دے کلي دا کلے به پرې نهٔ بږدمه

په دې موقع ما ته د ارماني صاحب دیو زوړ غزل مطلع رایاده شوه . چې د هغوئ اولنۍ شعري مجموعه "دا کاڼي اودا کوټې" کښې چاپ ده .

ـه

ژوندون مې ترىخ شولو پۀ خپل کلي کښې
ډېر بۀ بښۀ تېرشي خو پۀ بل کلي کښې

ارمانى صاحب پۀ ورکوټي بحر کښې هم ښکلې غزلې ليکلي دي.
ځنې غزلې خو ئې ډېرې زړه راښکونکي دي - اندازِ بيان
ئې ساده دے او لوستونکي ته ناساپه دا احساس ورکړي
چې د ارماني صاحب شعر اوس هم هغه ژوندۍ جذبه لري
کومه چې د هغه پۀ اولنى کتاب کښې پۀ چپو ده -

سه

سترګې مې رندې شولې پۀ تا پسې
لږ خو ښېرته اوګوره پۀ ما پسې
شپې د هجر تورې شوې اوږدې شولې
کسې مې ړاندۀ شول پۀ رڼا پسې
راشه پۀ پټوس د خپل مسُين ګلي
مرور ے به لاسونه بيا پۀ ما پسې

ارماني صاحب پۀ اوږدو رديفونو کښې هم طبعه ازمائي کړې
ده . د هغوئ دا غزل د کوم رديف چې ئې د خپل کتاب نوم تاکلے
دے . ياران هيڅ نۀ وائي ؟ د اوږد بحر يو ه ښائسته
ښکاره ښکارې - مقصدي تاثرلري او خپلو لوستونکو ته د ازادۍ
يو نوې رنګ پۀ ګوته کوي او ورته وائي چې سه

مونږ په خپل واکه کور کښې اُف له خلې ویستلې نۀ شو
څۀ عجیبه شان آزادي ده یاران هیڅ نۀ وائي
لکه اوبه توئیږي سرې وینې په پاکه زمکه
څومره دوینو ارزاني ده یاران هیڅ نۀ وائي
خدایه موسی ورله پیدا کړې چې غرور ئې مات شي
دفرعون ګرانه بندګي ده یاران هیڅ نۀ وائي

دا غزل هم دیکلې شوې تاریخ په دنیا کښې د ضیاءالحق د مارشل لا سیاه دور یادګار دے. خو افسوس چې د حالاتو د ناکړدو له کبله د ملازمت یا څه نورو مجبورو له کبله ځنو شاعرانو د خپل زړۀ داغونه پټ اوساتل چې مونږ ورته د وخت ستم ظریفي وئیلے شو.

دا رماني صاحب د نظمونو هم یو خپل انداز دے. د هغۀ اکثر نظمونه ازاد دي خو یو ربط یو تسلسل په کښې شته دے. بنۀ مقصدي نظمونه دي. پښتو ژبه خوسې هم په ځنو تېرو کښې د ازاد نظم یو ابتدائي رنګ پیش کوي اګر چې ځنې نقادان په دے خبره اصرار کوي. چې که په روزمره ژوند کښې پابند او مقفٰی شاعري کیدلې شي نو د ازادې شاعرۍ څۀ ضرورت دے.

د هغوئ دا خیال دے چې کوم شاعران خپل داخلي احساسات په پابند غزل کښې نۀ شي ځایولے. هغه د ازادے شاعرۍ لمن

اونیسي . نو ځیني نقادان لکه مولانا محمد حسین آزاد دا رایٔ څرګندوي
چې په کتابونو کښې نو شعر یو مُقفیٰ او موزون کلام ته وائي. خو
که چرې په دې شعر کښې تاثر نهٔ وي . حسن وخیال نه وي نو که
داسې کلام موزون او مقفیٰ هم وي نو هیڅ مزه نهٔ کوی. ځکه
چې فقط قافیه بندئ ته شاعری نهٔ شي ویلے کېدے . د
آزاد نظم په اولنو لیکونکو کښې د میاں سید رسول رسا مرحوم
او فضل حق شیدا مرحوم نومونه په خاص ډول د ذکر وړ دي. د
دې نه علاوه محترم عبدالغني خان ، ارباب هدایت الله مهجر
ریتاسري ، محمد یونس خلیل او اشرف مفتون هم د اولنی دور
د ازاد نظم په لیکوالو کښې شامل دي او دوئ په دې میدان کښې
د خیال نیلی زغلولي دي . د خدائ بخښلي ایوب صابر د
وینا مطابق په پښتو کښې مکمل ازاد نظم لیکل د کال ۱۹۴۸ سنه
نه شروع شو . هغه وخت چې کومو لیکوالو په ازاد نظم کښې
نوې نوې تجربې کړے وے . په هغو کښې دګران قلندرمومند
خدائ بخښلو ایوب صابر اورشید علي دهقان نه علاوه مراد شنواري
لطیف وهمي او ارباب رشید احمد خان نومونه په خاص ډول د
یادګیرنې وړ دي .

ارماني صاحب هم آزاد نظمونه لیکي . د هغهٔ د ازاد نظمونو
یو خپل انداز دے . په هغو کښې ربط هم شته تسلسل هم لري
او هر یو نظم ئې یو خاص مقصد لري او یو پیغام ورکوی. د
هغهٔ اکثر نظمونه د کلي وال ژوند بشکلې عکاسي پیش کوی. په

دې مجموعې کښې د ارمانی صاحب او لنډ ازاد نظم " دمړګ سوداګر" په ښکاره ډول عقلي او منطقي معنې لري . د نظم په لوستو د قاري خیال سمدستي د خپل وطن کړېچنو حالاتو ته ور اوګرځي او د ارمانی صاحب د دے خیال سره متفق شي چې د ملک هر اوګرځي دِ ددې حالاتو جائزه واخلي چې د انساني وینې دا ارزانی به دا وطن اخر تباهئ ته ورمخامخ کړي او خدائ مهٔ کړه هسې نه چې توټې توټې شي .

"خوږه یادونه" د کلي وال ماحول یوه ښکلې او زړهٔ راښکونکې منظرکشي پېش کوي .

"پښتو او پښتون" نظم کښې ارمانی صاحب په یو تمثیلي رنګ کښې د خپلې خاورې او خپلې ژبې سره د خپلې بې کچه مینې اظهار کوي . ارمانی صاحب دا نظم په کال ۱۹۶۹ء کښې لیکلې دے . چې د هغه وخت د مشهورې رسالې "قند" مردان (دویم دور) کښې چاپ شوې دے چې ګران قمر راهي ئې مدیر وو .

"ګوډاګیه" یو ښائسته نظم دے چې مرکزي خیال ئې د کولمبیا ریاست یوه ماشومه جینۍ ده . چې د لاوې په اور کښې اوسوزېده . خوخپل ځان ئې ژوندې پاتې کړو .

په "بغاوت" نظم کښې ارمانی صاحب د خپلې مغروره محبوبې د مغرور نظر نه بغاوت کوي او وائي چې . ـــ

داسې نظر نه بغاوت کومه

چې بې رخې ترې څاڅي

داسې نظر ته نور کتي نهٔ شمه

چې بې وفا وي مدام

"اختر" يو ښکلې نظم دے ۔ د نظم مرکزي خيال کښې د طبقاتي نظام غندنه شوې ده ۔ بنهٔ رواني لري د بندونو ترون ئې ډېر ښکلې دے ۔ ساده او روانه ژبه لري او دا نظم ئې هم په "قند" کښې چاپ شوې دے.

د دې نه علاوه "رنګونه" او "رڼا" نظمونو کښې ئې لکه د بوډۍ د ټال هر يو رنګ جدا جدا خوندونه او رنګونه لري ۔ کوم چې د دوئ سحر په طمعه د شاعر د جذباتو عکاسي کوي ۔ "مزدور او زهٔ" او "تپوس" نظمونه ئې د انقلابي فکر غمازي کوي ۔

د "جدائې" نظم په لوستو ماته د ساحر لدهيانوى (مرحوم) هغه نظم رایاد شي .

"چلو ایک بار پھر سے اجنبی بن جائیں ہم دونوں"

حقيقت دا دې چې د پښتو څښې شاعران د ساحر لدهيانوى مرحوم نه ډېر متاثره دي دا د هغهٔ رنګ دے چې کله کله د هغوئ په شاعرۍ کښې غير شعوري طور سره راڅرګند شي .

"نغمه" "آئينه ماته شوه" " زما جانانه بې وفا جانانه "ښکلي نظمونه دي ۔ او د لوستونکو جمالياتي ذوق ته تسکين وربخښي.

"آوازونه" "مرام" د ارماني صاحب د انقلابي ذهن بناسته ننداري دي ۔ چې د اسلوب بنائيست سره سره د مقصد رڼاکانې

هم لري .

ارمانی صاحب د استعماري طاقتونو دلاسه "دکابل ښار"
په تباهۍ باندې دخپل ډوبل احساس ترجماني په ښائسته الفاظو
ښکاره کړې ده .

ارمانی صاحب د پښتو ژبې د غزل بابا امیرحمزه خان شنواري
(مرحوم) ته په ډېر زړه راښکونکي انداز کښې پېرزوينې وړاندې
کړي دي .

لکه چې وائي . سه

بس یوه چغه وه خوره شوه
دخټګل اور وو
چې د خیبر دسیمې
د پښتون خوا دسیمې
د غزل پلار خفه شو
هغه مالیار خفه شو
چې د حجاز په سفر
د پښتنو د قافلو سره تلو
د مېړنو سره تلو

"خلې" د عقیدت پېرزوينې دي چې ارماني صاحب دخپل
خوږ آشنا او ښاد محمدشریف ستانه دار په یاد کښې لیکلې دي .
خدای بخښلی شریف زما هم ډېر خوږ آشنا وو . او د هغه په مړینې
ما هم یو نظم " مرګیه څومره بې نېتې راغلې " د سرخط لاندې

ليکلي دے چې زما کتاب "ژوبل ګلونه" کښې په کال ۱۹۸۸ء کښې چاپ شوې دے۔

ارماني صاحب "فيصله" نوم نظم په کال ۱۹۸۱ء کښې د خپلې حلقې د قومي اسمبلۍ د ضمني اليکشن په حقله ليکلي دے چې د خپل عدم اطمينان اظهار يې ورباندې هم کړې دے او د طبقاتي نظام غندنه يې پکښې ښه په ډاګه کړې ده۔ خو افسوس چې په ارماني صاحب د دې نظم ليکلو په وخت مايوسي غالبه شوې ده. او د انقلاب هسکه جهنډه يې د لاس نه خوشې کړې ده۔

به هر حال ارماني صاحب يو باشعوره شاعر دے او د خپل خانه ګير چاپېره حالاتو باندې ښه ژور نظر لري او مونږ ترې نور هم د ښه ليک طمعه لرو۔ خدائ دې اوکړي چې د ارماني صاحب د ليک دا سفر هم د غسې جاري وي۔ آمين

د ډېرو نېکو هيلو سره

په درناوي

ډاکټر فضل رحيم خټک

پېښور ۲۱ ستمبر ۱۹۹۲ء

# غزل زار

داچې لوګي دي دوند وکار دے خدايه داڅه چل دے؟
لمبې دي اور دے سور انګار دے خدايه داڅه چل دے؟

وينې بهيږي له هرچا دسترګو اوبنکي څاڅي،
هر ځاې مقتل دے هر ځاې دار دے خدايه داڅه چل دے؟

ژوندون دغلو په شان له ګرځي نکه مرې بې ساه
مرګ ورته ناست په لوېه لار دے خدايه داڅه چل دے؟

هره کوڅه کښې مې غوغا ده هريو کور کښې ژړا
غم د هرچا په اوږو بار دے خدايه داڅه چل دے؟

چاويې چې رابه شي سپرلے شاړې مېرې به ګل کړي
راج دخزان مې په ګلزار دے خدايه داڅه چل دے؟

ځوک وائي چې دلته روړوني وه مینه مینه هــر ځای
دلته خوبل شان له روزګار دے خدایه داڅهٔ چل دے؟

مونږ ه په نورو باندې شک کوو خپل ځان نهٔ وینو
غل مو دخپل کور څوکیدار دے خدایه داڅهٔ چل دے؟

مونږه دچانهٔ کیله اوکړو چاته اوژاړو ځـــان
هر یو دبل ځنې وېزار دے خدایه داڅهٔ چل دے؟

ارماني چاته زړې نخښې دخپل ښــار اوښایم
تالهٔ ترغه ې ه بازار دے خدایه داڅهٔ چل دے؟

۲۱ رجولائی ۱۹۹۵ ئ سنه

* * *

دکلي اوو تمه ستا کلې مې خپل نهٔ شولو
يَه دزړهٔ سره دېچا کلې مې خپل نهٔ شولو

کلي به څه اوشي جانانه چې مې کلې نشته
بې کلي ګرځم په بېديا کلې مې خپل نهٔ شولو

داخو به تا وې چې زمونږ کلې خپل کلې کنه
اوس څنګه اووايم چې دا کلې مې خپل نهٔ شولو

پرون راغلې په خندا ومه زه دې کلي ته
نن ترې روان يم په ژړا کلې مې خپل نهٔ شولو

ماوې چې دلته به خلوص وي دلته مينه به وي
دلته کېنې دواړه دي عنقا کلې مې خپل نهٔ شولو

ارماني تا ورته په طمعه څومره شپې روڼې کړې
خو نهٔ راځي هغه رڼا کلې مې خپل نهٔ شولو

۲۴، نومبر سنه ۱۹۸۲ء

ګرانه ده چې ستا سره په چل خبرې اوکړم
یو ځل به درته بیبنې په مقتل خبرې اوکړم

ژبه مې تړلې ده وختونو وخت به راشي
بیابه د جونګړې او محل خبرې اوکړم
نقش مې دي په زړه راته هېڅکله نهٔ هېرېږي
تاته به زهٔ ستا د هر یو پل خبرې اوکړم
مهٔ مې چیړې لا خو مې زخمونهٔ اوده نهٔ دي
هسې نه چې توله په یو ځل خبرې اوکړم
لو مې شوې چاپېر مې له مرې نه دېرو
دستر ګو په رڼا به د منزل خبرې اوکړم
اے واېه محتسبه فیصله به په تا کېږي
کهٔ ځان درته سازبنکارې چې د غل خبرې اوکړم

کرم د ے ارمانې چې ټې ستاینه ستا اوندکړله
ځنګ به په دې حال کېنې د اوربل خبرې اوکړم

۱۷، مارچ ۱۹۸۳ء

ګلي چې ستا سترګو ته نهٔ ګورمه
بل به د چا سترګو ته نهٔ ګورمه

څومره ښايسته دي د جهان ښکلي
خو د هيچا سترګو ته نهٔ ګورمه

ستا د ښايست سره کړي لوبې سپرلي
ولې به ستا سترګو ته نهٔ ګورمه

لويه دنيا ده هرخوا سترګې سترګې
يم مړه خوا سترګو ته نهٔ ګورمه

چې نا اشنا کړي ځان له قسته اشنا
داسې اشنا سترګو ته نهٔ ګورمه

ارماني غلي ګوري درته
خو له حيا سترګو ته نهٔ ګورمه

۸، ستمبر سنه ۱۹۸۸ع

ستوري اوده دي د شپې غېږه کښې ځلانه کوي
ورېځ بنه تورۀ شوه سپوږمۍ چرته رڼا نۀ کوي

داځۀ چل اوشو چې په ټول محفل چپتيا خوره شوه
په پټه خله هم ياران ذکر د صبا نۀ کوي
مونږه د زړۀ د نوُل خبرې چا ته څنګه اوکړو
چې مو علاج د بيمارۍ يو مسيحا نۀ کوي
اوس به په هر ځلي د ياد ډيوې د اوښکو بلوم
پوئ شوم چې دلته کښې څوک چا سره وفا نۀ کوي
نور د ښايست په لمبو ځان هسې سېزلې نۀ شم
پوره شوه بس دے يار دې نور ذکر زمانه کوي
مونږ چې خپل وران کلي ته يو ځل سور سپرلے راولو
کاغذي ګل به په ګلدان کښې بيا خندانه کوي

ارماني حال ته به د زړۀ حالونه وائې داسې
داسې وخت راغې چې اعتبار هيڅوک په چا نۀ کوي
۱۷ ر نومبر سنه ۱۹۸۵ ء

په ویښه راشه خو په غلا مه راځه
ماله په خوب کښې په خندا مه راځه

زۀ مینه غواړمه د زړۀ په بدل
کۀ دا دِ نۀ وي خوښه بیا مه راځه

زما په حال باندې زهیره مه شې
اوخاندۀ راشه په ژړا مه راځه

ستا د بنایست سره کړې لوېې سپرلي
راشه خو ډېره په ربنا مه راځه

خیل ارمانی ته بهانې مه کوه
کۀ راځې نن راشه صبا مه راځه

۴ نومبر ۱۹۹۳ سنه

ملګرو څه تپوسې ما چې چا ته ژوند تېروم
د زړه په رنځ اخته د زړه دوا ته ژوند تېروم

زه د خزان سېلو زېلي چل وهلي پاڼه
په طمعه طمعه د سپرلي هوا ته ژوند تېروم
په دې وېنا باندې که ګرم شمه نو بدې محبوبې
دروغ به نه وي ستا د خال ښکلا ته ژوند تېروم
چې د سکون پلوشې اوشیندي په غر او سمه
خدایګو د داسې روڼ سحر رڼا ته ژوند تېروم
زه د هجران تېرو زېښبلي هر ستم وهلې
ستا د وصال یوې ښائسته ادا ته ژوند تېروم
خندا به څه راشي خندا په دوغو زړونو کېږي
ماله ژړا راشي چې ستا خندا ته ژوند تېروم

اوس د وفا طمعې هم پاتې شوي نه دي
ارماني څو به د فرېب وفا ته ژوند تېروم

۱۷، نومبر سنه ۱۹۸۵ م

ما درته غلي کتل تا اوکتل
بانه دې پرېوتل چې ما اوکتل

په غټو غټو راته مه ګوره نن
پرون دې نه ليدل هر چا اوکتل

زما په زړه دې زلزلې راوستې
تا چې په تلو تلو کښې په شا اوکتل

ددې نه بله حادثه به څه وي
تا چې رقيب ته په مُسکا اوکتل

ارمانې هېڅکله به جوړ ترې نه شي
که ئې يو ځل درته رښتيا اوکتل

۳۰، جون سنه ۱۹۸۴ع

ستا په نصيب کښې يې ليکلے د مزو ژوندون
مونږ بدنصيبه تېر وُو په سرو لمبو ژوندون

مونږ نهٔ د ګل خندا ليدلے نهٔ مو رنګ د سپرلي
تهٔ څهٔ خبر يې چې وي څنګه په ازغو ژوندون

وعدې کوه وخت تېروه د بل صبا په وعده
تا ته به خوښ وي په مونږ تېرېږي شو د وعدو ژوندون

کوه چې څهٔ دې زړهٔ مني جور و ستم کوه دېر
يو ځل به تېر شي خبرے دا د ناکړدو ژوندون

ارمانې څوک به ويښوې مړي ويښ کړي دي چا
په خوب اُوده دې تېروي ټول په اودو ژوندون

۱ر فروري سنهٔ ۱۹۸۴ع

لارې چې بند شوې د جانان کلي ته
کله به اوکړو د ارمان کلي ته

ترڅو به خلق بند وي دا لارې
رابه شي يوځل مې جانان کلي ته
اې په دنيا مئينو مه ويرېږئ
تېرې به بيايو د زندان کلي ته
ګلونو خاندې د سپرلي په خاطر
خزان روان دے د خزان کلي ته
مونږ په ديدن پسې راندۀ شو د يار
بې لوظه بوتلو د هجران کلي ته
پورې بلېږي په محلونو شمعې
حتیٰ چې ترې راوړو چراغان کلي ته

زۀ ارماني وايم په جار ملګرو!
نور به پرې نۀ بږدو رقيبان کلي ته
۲، ستمبر سنه ۱۹۹۳ء

○

پۀ مودو پس چې بخپل ځان پوهه شوم
پۀ سود پوې نۀ شوم په تاوان پوهه شوم

ورځ د تيرو څادر کښې بيا پټېږي
زۀ په رنګونو د آسمان پوهه شوم

تۀ چې څۀ وائې ټول دروغ بۀ وائې
بيان دې بس که په بيان پوهه شوم

کله شي خوږ کله شي تريخ جانانه
نۀ دې په دين نۀ په ايمان پوهه شوم

ما ارماني ته شنۀ باغونه بنائي
زۀ د فريب په ګلستان پوهه شوم

۲، جنوري ۱۹۸۶ء

پهٔ اوچو شونډو دې مسکا غواړمه
بس نور څه نهٔ غواړمه دا غواړمه

چې دې په مخ زلفې خورې ورې کړې
زهٔ د سپرلي داسې هوا غواړمه
چې لوپټه دې په کمڅو نوره کړې
ربښا د مخ له دې حیاء غواړمه
چې اننګي دې کړې غوټۍ د ګلاب
داسې ښائسټ داسې ښکلا غواړمه
که ښاپېرۍ د کوهِ قاف راشي
بیا به هم زهٔ خپله لیلا غواړمه
په برق برق اوخانده بڼلیٰ راوله
نڅود زړګي له ستا خندا غواړمه

ارمانې نور د خدایه هیڅ نهٔ غواړي
د پاکې مینې یو سودا غواړمه
۱۱ جون سنهٔ ۱۹۸۶

دغه خو ژوندي نهٔ مړهٔ کېږو د رڼا په لټون
خوږو ملګرو ځکه چي لاړ شو د صبا په لټون

تيرې روښانه کړئ په ټوله لاره يوې بلې کړئ
اې سرو بچو د مقصد د تمنّا په لټون

د جفاګانو په هر کلي او ښار اوکړئ يرغل
دا سُرخ روي ده که سر لاړ شي د وفا په لټون

اې په کږو لارو چي ځئ په بينا سترګو ړندو
په نېغه لار لاړ شئ د ژوند د مدعا په لټون

ارماني هر څوک که سختئ او تکليفونه تيرئ
خو نهٔ صبرېږي چي روان دي د ښکلا په لټون

۲۸، جون سنهٔ ۱۹۸۴

د چاچي سترګو کښې خوبونه نه وي
ولې په زړه به یې غمونه نه وي

زه د سپرلو په رنګینو څه کوم
ستا چې په زلفو کښې ګلونه نه وي

د انتظار سترې به څه د مه شي
ستا د راتلو چې امیدونه نه وي

نن مې په زړه ډېر راورېږي هغه
ګل به زما ولې فکرونه نه وي

نازبینې ډېر په حسن مه نازېږه
ټول عمر یو شان له وختونه نه وي

د ارمانجن په زړه سوکړې تېرېږي
ستا د دیدن چې بارانونه نه وي

۳۰، دسمبر سنه ۱۹۲۳

نفسا نفسي شوله راځئ دکار خبرې اوکړو
خوږ و ملګرو! نن دخپل اختیار خبرې اوکړو

وخت دے روان په منډه هیڅ دچا خاطر نه کوي
په شف شف کار نه کیږي بس په جار خبرې اوکړو

اې په تیرو کښې چې روان یئ لږ راستون شئ واورئ
اودرېږئ راشئ لږ دسینې لار خبرې اوکړو

موږ په رڼا پسې ړانده موږ دتیرو دښمنان
اې مارخوړلو لږ ددې خامار خبرې اوکړو

ټول به خبر دي چې داوښ په شا دسپو خوراک شو
دخدای دپاره راشئ وار په وار خبرې اوکړو

۳، ستمبر سنه ۱۹۹۳

ګل به دِ اوربل له دېښتو کړمه
تور به دې دسترګو دیمو کړمه

یَه د زړګي سره زړه ته راشه لن
لار به درته پاکه د ازغو کړمه
څنګه به مې سترګې شي اودې په خوب
تا چې اموخته په شوګیرو کړمه
هله به دمه شم لا دمه نهٔ یُم
جګې چې شملې د پښتنو کړمه
هر کله چې راشې پسرلے په دے
غاړه به دې ګل په ګل غوټو کړمه
ځي تېرې په بېرته رڼا رابه شي
بیا به نندارې د پلوشو کړمه

هله به شي سر دارمانې ارمان
تا چې د مېړنو دسیالو کړمه

۲۶، اپریل سنه ۱۹۹۰ع

چي د ښايُست مقام ته اورسېدم
هيله د مينې بام ته اورسېدم

پرون مې ستا په پل سجدې کولې
نن په يوګام ستا ګام ته اورسېدم

زما په څنګ کښې کړنګېدل جامونه
زهٔ يو مات شوي جام ته اورسېدم

بې قامه ډوب ومه ختلې نهٔ شوم
په قام ولي مقام ته اورسېدم

دا جوړ آغاز دے ارمانځ د ژوندون
زهٔ چې د ژوند انجام ته اورسېدم

۸ ، مارچ سنه ۱۹۹۳ء

نور د روا او ناروا خبرې مهٔ یادوه
زړګیه بس دے پرېږده دا خبرې مهٔ یادوه

چې چرته کښینې یادوې د هر ستم خبرې
یه لیونیه! دا رښتیا خبرې مهٔ یادوه
پرېږده چې اوسوزي لمبه شي هم ایره ایره شي
دلته کښې بیا د مسیحا خبرې مهٔ یادوه
اې د وفا یه لوظ مسته دروغژنه یاره
یَه بې وفا نور د وفا خبرې مهٔ یادوه
ددې حالاتو د سِتم نه کړه چرته اوکړه
کښېنه قلارشه د غوغا خبرې مهٔ یادوه

دلته قدغن دے د سپرلي په ذکر هم یارانو
ارمانې بس کړه د بنګلا خبرې مهٔ یادوه
۲، ستمبر سنه ۱۹۹۳ء

په ماچې ستا د مينې تور لګي
په رقيبانو باندې اور لګي

ستا د نوږو خوږو خبرو خوانهٔ
زما په هر زخم نمکور لګي

دستګو تور وربښي سپين شو زما
بويه چې نوي ګلان نور لګي

زخمي زخمي پرهر پرهر شمه زهٔ
په ماچې ستا د بنګړو شور لګي

په تا مئين ارمانځ کړه کوي
خدايۍ خبر بيا به په کوم لور لګي

۱۵، جون سنه ۱۹۸۴ع

نن مو په دار خبرې سپینې اوکړې
سبا مو په جار خبرې سپینې اوکړې

پرون ده چې اولې موصبا په کانړو
نن مو د کار خبرې سپینې اوکړې
په ګل وطن کښې د ګل ذکر ګناه
مونږ د بهار خبرې سپینې اوکړې
ترڅو په یو بل به شکمن وو مونږه
سبا شوه چې یار خبرې سپینې اوکړې
بې لارې نه یو نبغ روان یو په لار
که چا د لار خبرې سپینې اوکړې
پوه شوم چې نه راځې بې لوظه آشنا
ماته دې بار خبرې سپینې اوکړې

ارمانه نن په ډک محفل کښې مونږه
چارو ناچار خبرې سپینې اوکړې

۱۵، نومبر ۱۹۸۵ء سنه

زړګیه نهٔ وې دومره اوږد په کلونو ماښام
یو ځل به تېر شي خېر دې دا د ستمونو ماښام

ډېر په خوږو پښتو ټپو تېروتمه پوهه نهٔ شوم
زهٔ څهٔ خبر وم چې وي داسې د لوظونو ماښام
نمر به یو ځل څره وهي دا مې یقین دے آشنا
تا ته په ګوته به کړم هر یو د ظلمونو ماښام
د زړهٔ په کور مې راوریږي بارانونه د غم
هیڅکله رامهٔ شه په چا دا د غمونو ماښام
د تیرو سروي هر ماښام یو اژدها شي شپه شي
لاړ ورته نیسئ چې رانهٔ شي په ټوپونو ماښام
ستا د اودو سترګو شوګیر رانه خوبونه اوړي
بیا دې هم نهٔ مړېږم زهٔ په دیدنونو ماښام

په ژوبل زړونو بادشاهي کوې ځان نهٔ خبروې
ارمانجې سترګې شو لو ستا په تپوسونو ماښام

۳۰، جون سنه ۱۹۸۳ ع

ګُلې ! زهٔ ستا نه خفه کېږمه نه
نور د چا حُسن ته پسخېږمه نه

ولې په شونډو کښې پلیسکې نیسې
تا خو به وې چې زهٔ شرمېږمه نه

"راشه په سترګو کښې مې خوب شه ګُلې!
بې له دې خوبه اوده کېږمه نه

ما ته صفا د سپینې سپینې وایه
زهٔ په رښتیاؤ خفه کېږمه نه

ارمانخص چا چا نه کېلې به کوې
زهٔ خو پهٔ دې باندې پوهېږمه نه

* * *

داسې اُوده وُم په ځان پوهه نهُ شوم
زهُ په کړسا د آسمان پوهه نهُ شوم

دا څه چل وو دا څه چل اوشو په ما
چې په اغیار او جانان پوهه نهُ شوم

ګلونو نه خندل ما ډېر ډېر خندل
زهُ په سپرلي او خزان پوهه نهُ شوم

چې په جنت کښې هم خوشحاله نهُ شو
بیا هم په خوئې د انسان پوهه نهُ شوم

ارمانونه ګران دے خو ډېر خوږ دې ژوندون
خو زهُ په ګران او اسان پوهه نهُ شوم

۲۶، مارچ سنه ۱۹۹۲ء

ساه به مې لاړه شي خوستا کلے به پرېږنهٔ بڼدمه
ډېر پېه ماګران دے ګلے داکلې به پرېږنهٔ بڼدمه

کهٔ څوک مې شړيي ترې پېه زورهسې به زور بنايئ
يوځل مې ويښلي دي چې داکلے به پرېږنهٔ بڼ دمه
داستا دمينې اوخلوص مسکن ډېر ګران دے پېه ما
دا دګلونو او بنګلا کلے به پرېږنهٔ بڼ دمه
خلق کهٔ هرڅه وايئ هيڅ پرواه نشته دے
څوک شي ساتلی زړهٔ دچا کلے به پرېږنهٔ بڼدمه
روح چې وجود کښې وي وجود ډېر ګنې هيڅ نشته دے
دې مې وجود دے هم مې ساه کلے به پرېږنهٔ بڼدمه

ارمانې مړ اوهم ژوندي ښنه يم پېه دې کلي کښې
کهٔ څوک خفه وي کهٔ پېه خلا کلے به پرېږنهٔ بڼدمه

۳۰ ر مارچ سنهٔ ۱۹۸۳ء

موسم د ګلو دے نو یو ګل د دیدار نشته
د چمن رنګ بدرنګه ښکاري چې بهار نشته

څومره په ستغو لارو ځمه د جانان کلي ته
پښې مې پولئ شولې رهبر چرته په لار نشته

اې ځواني مرګو حوصلو لږ راله لاس راکړئ
ځمه ورځم که د چړو د پاسه لار نشته

ته د دروغو په لوظونو باندې وخت تېر وے
نور مې په تا دیوې ذرې هومره اعتبار نشته

تور ښنه راپورې کړئ چې تورشمه په تور د مینې
زۀ ارمانځپلیمه په دې مې هیڅ څه کار نشته

۳۰، جون سنه ۱۹۸۴ء

لرې کهٔ هر څو وې نږدې شوې ستا خبرې
لاړې چم په چم باندې خورې شوې ستا خبرې

ما وې دُعاګانې دي په شونډو چې دې راغلې
څهٔ خبر وم ګلې چې خبرې شوې ستا خبرې

زخم نو جوړېږي هم داوُر په ټکو رونو
تا چې ترخې څومره کړې خوږې شوې ستا خبرې

ستا نه جوړې هېرې شوې له ما نه هېرې نهٔ دي
څهٔ اوشو جانانه کهٔ زړې شوې ستا خبرې

ګلې ارمانجې دې د وصال په طمعه ژوند کړې
بیا یُ تصوّر ته راستنې شوې ستا خبرې

* * *

جانانه مه راځه موسم خبرې بښې نه کوي
لګیا دي خلق چم په چم خبرې بښې نه کوي

چې د ګلونو زندګی وه د صبا زېړې وو
مګرو! نن هغه شبنم خبرې بښې نه کوي

په اوچو شونډو به زمونږ خندا ښکله راشي
ساقي کښې نشته هم کرم خبرې بښې نه کوي

دلته به نورې د ژوند شپې ورځې په څه تېروو
چې ستم ګر کوي ستم خبرې بښې نه کوي

دغه سپين مخې په زړه تور له کبره کوز نه ګوري
بې دي په سينو راله قدم خبرې بښې نه کوي

۸ , فروري سنه ۱۹۷۵ع

★ ★ ★

ټومره خاموشه خاموشي ده، یاران هیڅ نهٔ وائي
هره مرۍ کښې تړندۍ ده، یاران هیڅ نهٔ وائي

مونږ پخپل واکه کور کښې اُف له خلې ویستلې نهٔ شو
څهٔ عجیبه شان ازادي ده ، یاران هیڅ نهٔ وائي

دلته کښې پړي له مرۍ ګوري بې رحمه بادار
ټومره بنایسته باچاګړدي ده، یاران هیڅ نهٔ وائي

په ګل وریته زمکه اوربل دے لمبې ترې خیږي
په سرو لمبو کښې زندګي ده، یاران هیڅ نهٔ وائي

دخپلې مینې او اخلاص خوانږه مو اونهٔ موندل
لوګې لوګې هره خواني ده، یاران هیڅ نهٔ وائي

چرته دېښې لګېدو ځاې د آرام پاتې نهٔ شو
فضاء همه ازغي ده، یاران هیڅ نهٔ وائي

خدایه موسیٰ ورله پیدا کړې چې غرور يې مات شي
د فرعون ګرانه بندګي ده، ياران هيڅ نه وايي

لکه او به تو يېږي سرې وينې په پاکه زمکه
څومره دوينو ارزاني ده، ياران هيڅ نه وايي

دا د ظلمونو قصه نه ختميږي سر دې او خوري
دا ارمانځي هم مجبوري ده، ياران هيڅ نه وايي

۱۱ ستمبر سنه ۱۹۸۴م

* * *

تل مو په نصیب کېږي دي تراخهٔ د زماني
چرته مو اونهٔ لیدل خوږهٔ د زماني

سوزو او وریتېږو په اورونو د وختونو
چا په مونږ پېرزو کړل داتاوده‌ٔ د زماني

نهٔ ګوري په زمکه څۍ په منډه منډه زغلي
څومره خطرناک دي داسوارهٔ د زماني

چانه اې ملګرو دخپل حق غوښتنه او کړو
نهٔ لري څوک ستړګي، دي ړانده د زماني

کاڼي راوریږي د محل نه په جونګړو
لاړل لیوني شول نوي وارهٔ د زماني

★★★

پرېږده دا تله راتله د غلو په شان
راشه زړګي ته د زمرو په شان

په رڼا ورځ دې هم لیدې نه شمه
زلفې په مخ دې وې د شپو په شان
مینې دې داسې څه چل اوکړو په ما
ګوتې شمارم د لېونو په شان
راشې خو زړه مې پرې راتول نه شي
لاړه شي زر د غلچکو په شان
زخم د زړه به مې په څه روغ شي
بانه لري چې د ازغو په شان

ارمانیږم حسن ئې ثاني نه لري
د کوه قاف د ښاپېرو په شان

۲۷، اپرېل سنه ۱۹۹۰ع

مونږ د ګرېوانونو د شلېدو خبرې زده کړې
اوس مو هيله خدائيګو د سپرلو خبرې زده کړې

زهٔ خو د بې ځايه بې مقصده بحث قائل نهٔ يم
تاسو څنګه سېبنې د ښېښتو خبرې زده کړې

نن يې په اول ځل د ښهو دلاندې څخهٔ اووې
پوهه شوم چې جانان په اشارو خبرې زده کړې

څنګ به درته اوګورم زخمونه بې لا روغ نهٔ دي
تا خو ياره ښغې په ښهو خبرې زده کړې

نهٔ يم ارمانجن خبر له ځانه چې د اخځهٔ اوشول
زړهٔ بې د بې واره درزېدو خبرې زده کړې

۲۱/ دسمبر سنه ۱۹۹۵ع

* * *

د حیاء سره به دې لا نور پاتې شي
د کور خبره که په کور پاتې شي

زه خوله تا نه نور ګیلې نه کوم
پرېږده په تا مې چې لږ پور پاتې شي
ستا له خندا به ورېدل ګلونه
چا وې چې د اسپرلي به نور پاتې شي
د ښایست زور دې منم زور مه ښایه
په زوروري! چې دې زور پاتې شي
دلته څه نوره هنګامه جوړه ده
دې کښې به څه د بنګړو شور پاتې شي

ارمانجنه دې پرې ښېښما سه ګلې!
خبر که د مینې دې پرې تور پاتې شي

۲۱، دسمبر سنه ۱۹۹۵ع

ته خو لا ته یې د خپل ځانه هېڅ خبر نه شومه
یه د زړه سره د هیچا نه هېڅ خبر نه شومه

زه څه خبر وم چې خبرې به جوړېږي داسې
خبره داده په ماګرانه، هېڅ خبر نه شومه
ولې به نه کوم خبرې د صبا په شپه کښې
زه خو شمکور شوم د دنیا نه هېڅ خبر نه شومه
د بنګړو شرنګ به دې زما په غوږو څه اوسګی
زنځير شرنګېږي ګلې ستا نه هېڅ خبر نه شومه
زه خو په هرغږ پسې زغلم د رندو په مثال
خو د خپل پیر او رهنما نه هېڅ خبر نه شومه

ارمانجن اوس هم ګورې وخت شته د سوچ او فکر
بیا به دا نه وې چې د ځانه هېڅ خبر نه شومه

۱۳، دسمبر سنه ۱۹۹۵ء

دلته کښې مه راوړئ ملګرو د سیندونو کاڼي
چې راوړیږي بیا زموږ ه په سرونو کاڼي

اې د وطن په ښکلاګانو مړو په مینه مستو
تاسو خو راوړل د کالام د ډنګو غرونو کاڼي
موږ ه د ژوند په هره سخته لار مزلې اوکړې
خو پاسته نه شول د مېړو او د دښتونو کاڼي
تاسو د چا نه ګیله من يئ تاسو څوک ګرموئ
په موږ د خپله لاسه اوري د وختونو کاڼي
راشئ چې ورشو چې پښتنه د رښا ترې اوکړو
موږ ته تر کومې به تړلي وي په زړونو کاڼي

ارمانونه خدا بګو چې داوښ په شا د سپو خوراک شو
خو بیا هم نه ولو د هیچا په سرونو کاڼي

۱۲، دسمبر سنه ۱۹۹۵ء

بنګړي ئې شړنګ کوي شوري ګرځي
څومره په خيال غلې ګوري ګرځي

اوس ديوالونه هم خبرې کوي
موږ پسې هسې هم خپل سوري ګرځي

سم د ماښامه مې په خيال خوارۀ شي
د راستا خالونه دي که ستوري ګرځي

په مخ دې سرۀ سپين پټ پټوني کوي
لکه په ګل چې پرخه اوري ګرځي

ژن ارمانجن ته ئې ډېر ډېر کتلي
ورپسې بيا د غزل توري ګرځي

۲۹، اګست سنه ۱۹۹۷ع

* * *

ما د هر زخم نه ګلونه جوړ کړل
تاله مې څومره امیلونه جوړ کړل

مُسکې شه او خانده لږ بیا او خانده
زما په زړهٔ کښې دې کورونه جوړ کړل
ستا پرې یوه ذره زړهٔ نرم نهٔ شو
ډېر که داوښکو مې سیندونه جوړ کړل
د زنې خال دې څومره مړي او کړل
نامردې تا پرې نور خالونه جوړ کړل
مونږه دخپلې لارې نه راګرځو
رقیبٙ تا کهٔ ډېر بندونه جوړ کړل

ارماني ګرځي چم په چم درپسې
څکه ئې بیا داسې شعرونه جوړ کړل
۳۰، اګست سنه ۱۹۹۷ء

* * *

## نظمونه

# د مرګ سوداګر

ژوندون د غلو په شان، پټ په تور ځادر کښې ګرځي
راته ښکارېږي بوږ د مرګ ځنې پناه غواړي
ويرې اخستې دے، په زغل زغل کښې په شا ګوري
لکه چې ويره راخوره وي په ټول ښار د وطن
باغ و بهار د وطن
په ټول ګلزار د وطن
وايې د مرګ سوداګر ګرځي انسانان وژني
د خدائے بنديان وژني
ښائسته ځوانان وژني
د پېغلو بونو عصمتونه هم لوټ کېږي دلته
وينې توئيږي دلته
ګلان رېژېږي دلته
هر ظلم کېږي دلته
دلته خوارۀ دي د بارودو لوګي
اوښکې بهېږي له هر چا د سترګو
هم دادې له سترګو

هم د بابا له سترګو

دلته اورونه بل دي

دلته کورونه سوزي

دلته يو ورور لګی بل ورور وژني

خدايه دچا په لمسون ؟

دا قتلِ عام جوړ دے

برسرِ عام جوړ دے

دا په سړکونو چې پراته دي

دا ځوانان ځوک دي ؛

دا په سرو وينو لمبېدلي

شهزادګان ځوک دي ؟

يو پښتنه کوم

ما له ځواب راکړئ

چې په سړکونو دانسان وينې توئيږي ولې ؟

دا ښکلي ښار مې په سرو وينو کښې لمبيږي ولې ؟

ما له ځواب راکړئ

دا حالات چا پيدا کړل ؟

دا واقعات چا پيدا کړل ؟

دا هوس دا قتدار دے ؟

که لمسون د غليمانو ؟

چې ژوندون په بېعه اخلي

هم زما ژوند او هم ستا ژوند

سوداګر د مرګ ولاړ دي

په دې لارو او کوڅو کښې

خدایه دا به څه چل کیږي؟

د ګلونو شان وطن مې

بهارونو شان وطن مې

په لمبو د اور کښې سوزي

لوګي کیږي ایرې کیږي

خدایه دا به څه چل کیږي

اوس د دې څه حل پکار دې

اوس د دې څه چل پکار دې

ګڼې بل لاس مو پرې کیږي

کراچۍ رانه بېلیږي

۲۲، جولائی سنه ۱۹۹۵ء

* * *

# خواږه یادونه

لا خو دي تا د پېښو په پلونو گرد الوتي نه دے
لا خو تر اوسه هغه نخښې ورانې شوي نه دي
لا خو دلویو لویو ترږو په سر سپينې اوبهٔ
تر اوسه شوري انګازې يې غلي شوي نهٔ دي
لا خو زمونږ د ناستې ځاې اشنا وران شوې نهٔ دے
چرته چې دواړو به یو بل ته خپل حالونه ویل
چرته چې دواړو به یو بل ته خپل رازونه ښودل
هغه مرغۍ د اونو څانګو باندې اوس هم کښيني
چرته چې مونږ به يې سندرو ته په فکر ناست وُو
هغه قطار قطار سېلونه د ایلو او زانو
هم هغه شان په هغه دښته ماښیګر راځي
د غرهٔ په سر راځي
هغه د ګډو بزو رمې په هغه لاره راځي
ښه په قلاره راځي
هغه شپونکي چې به خوږه خوږه شپېلۍ دهله
هغه آهنګ د شپېلۍ اوس هم اورېدې شي هلته
هغه شنې پاڼې د غوړاسکو لا شنې هغسې دي

هغه ګلونه سپین تراوسه ریژیدلي نه دي

هغه خوږې خوږې ممانۍ چې به مونږ خوړلے

هغه تراوسه تورې تورې اوخوږې خوږې دي

نو ! د خوړو لوئ څوک نشته چې ترې خوند واخلي

مزې د ژوند واخلي

تا وې چې بیا د موسم راشي زهٔ بهٔ هم راحمه

نو لا تر اوسه بیا راته غلے موسم مغښي دے

لاره هغه ده د راتلو بدله شوې نهٔ ده

هغه د ښبو پلونه دِ اوس هم لا تازه تازه دي

راته ښکارېږي د موسم په بدلونه ئې خبر

ستاسو په کلی کښې موسم جوړ بدل شوې نهٔ دې

ستاسو په کلی کښې ګلونه لا ګل شوي نهٔ دي

کهٔ دا دښتیا وي اشنا بیا درنه خفه نهٔ یمه

اوس که راځې اوکه نه ، خبر دې هیڅ پرواه نشته دے

زما په زړهٔ کښې لا هغه "خوابدهٔ یادونه" ګرځي

ستا تصویرونه ګرځي

زهٔ چې اوس کله هم اشنا په هغه لاره راځم

سترګې مې خدائیګو ستا د ناستې هغه ځائې ته ګوري

۲۴ ، مئ سنه ۱۹۸۶ ء

* * *

# پښتو او پښتون

دژمي لويه شپه کښې
يوځل ماخوب ليدو
چې يو سپين ږيرې راغلو
هغه سلام اوکړو
زهٔ ورته پاسيدمه
هغه مسکې غونډې شو
ما وې بابا څهٔ خدمت؟
وې هيڅ خدمت نشته دے
دلته ستا خواله راغلم
يوه پښتنه کوم
تهٔ پښتو وائې لولې؟
چې دا پښتو لاڅهٔ دي؟
پښتانهٔ څهٔ ته وائي؟
ما وې زهٔ پوئ نهٔ شومه
آخر مطلب دې څهٔ دے؟
بابا خفه غونډې شو
وې هيڅ مطلب نهٔ لرم

خو دا پښتوس کومه

چې پښتانه چرته دي؟
هغه پښتو څۀ شوه؟
ما وې معاني غواړمه
تۀ د پښتو لټون کړې؟
تۀ د پښتو تکل کړې؟
دلته پښتو نشته دے
دلته پښتون نشته دے

زۀ هم پښتون نۀ یمه
زۀ پښتو نۀ پېژنم
چې دا پښتو لاڅۀ وي؟
چې پښتانۀ څوک دي؟
هغه څه سوچ واخستو
هغه حېران او درېدو
وې پښتانه نشته دے؟
تۀ پښتو نۀ پېژنې؟
ما ورته غلي اووې
دلته پښتو نشته دے
دلته پښتون نشته دے
دلته پښتو مړه شوه
دلته پښتون مړ دے

هغه یو کریکه اوکړه

هغه یوه چغه کړله

د پښتونخواه زمکې

د هشتنغر خاورې

د خیبر د ننګو غرونو

د مهمند جګو شملو

د ملاکنډ غیرته

د میرانشاه اولسه

هغه وزیر چرته دي ؟

هغه محسود څه شول ؟

هغه ختک چرته دي ؟

په اورکزو څه اوشول ؟

هغه شینواری څه شول ؟

اے د تیراه اولسه

په یوسفزو څه اوشول ؟

ما ټول وطن ګشت کړو

ما ټول وطن اوکتو

ما باجوړ اوکتو

زه په مهمندو راغلم

زه د خیبر نه تر بولان لاړم

ما قبیلې د پښتو اوکتې

خو چا خواب رانه کړو

چې دوئ پښتو څه کړه
پښتانهٔ چرته لاړل
د دوئ غیرت ، د دوئ پښتو او پت
د دوئ اخلاص او مینه
د دوئ غورزنګ په دښمن
د دوئ په کور مېلمانهٔ
د دوئ پرې او جنبې
چرته لاړې
بابا بیا سوچ واخستو
بابا بیا فکر اوکړو
ما ته ئې څهٔ داسې اووې
ن کهٔ پښتون مړ دے
ن کهٔ پښتو مړه شوه
خو خدائې دې ما نهٔ وژنې
زهٔ به پښتون ژوندې کړم
زهٔ به پښتو ژوندۍ کړم
زهٔ به میروېس راولم
په ایمل خان به هم جرګه اوکړمه
زهٔ به خوشحال راوېښ کړم
زهٔ به رحمٰن راولم
زهٔ به مغل اوشړم
د علي خان او د حمید غزل به

د جینډي خواکښې دمره چا پـه ژبـه

یو داسې خوند پیدا کړي

داسې سرور پیدا کړي

یو ترنم پیدا کړي

یو داسې خوږ ترنم

چې پښتانه ورسره لاس پړقوي

چې پښتانه ورسره سر ړقوي

چې سردریاب اوناګمان دواړه

په ګډه اتڼونو سر کړي

او د خیالي خوږې وږې چپې

ورته لاسونه وهي

نو دا به څنګ جشن وي

د پښتونخوا دخپل واکۍ جشن

د خوشحالۍ جشن

د سوکالۍ جشن

بیا به پخپله خاوره

هر یو پښتون

دخپل اختیار خاوند شي

۱۴ اګست سنه ۱۹۶۹ م

* * *

# ګوډاګۍ

**یادګیرنه:-** دا نظم ما د کولمبیا ریاست د هغې ماشومې جینۍ په نوم لیکلې دے . څوک چې د لاوې په سوراو کښې هم د ژوند په ارمان د مرګ سره په جنګ وه او مخامخ ولاړ فوټوګرافر ته ئې په ماشومه ژبه چغې وهلې - چې هله زر کړه زما تصویر جوړ کړه ځکه چې زه ژوندۍ پاتې کېدل غواړم - (ارماني) ۲۵ ر نومبر سنه ۱۹۸۵ ع

په حسینې یه ورې بنایسته ګوډاګۍ
د کوه قاف بناپېرۍ
د مور و پلار د ژوند بنګلا یه تاوه
د زړه دربا یه تاوه
د پردو خپلو نظرونه په سجده دوتاته
په تماشه ووتاته
هر یو حساس زړه کښې د دوو سترګو له
یو داسې کور جوړ کړو
چې زلزلې ئې غورزولې نه شي
یوه لاوه ئې ختمولې نه شي
ته دې د ژوند ارمانې
ځان دې ژوندې پاتې کړو

یه حسینې یه وړې بنایسته ګوډاګې
دکوهِ قاف بناپېرې
ما ته ښه یادې دي ، لاهېرې نه دي
ستا د رڼو سترګو رڼې اوښکې
غوټې غوټې اوښکې
سرې شرارې شرارې
بلې لمبې لمبې
یو حوصله وه پکښې
یوه جذبه وه پکښې
لکه چې مرګ له یې شکست ورکوو
لکه چې ژوند ته یې دوام بخښلو
یه حسینې یه وړې بنایسته ګوډاګې
دکوهِ قاف بناپېرې
موږ څومره زغم تېروو
په خپل وړوکي دجود
ستاسو وطن کښې لوړلوړ دننګ غرونه
په زړه پوټې غم ځای کولې نه شي
یو معمولي بوج هم اوړلې نه شي
لاوه پیدا کړي اوس څه لاهو کړي
لکه چې ته لاهو شوې
او په زړګونو خلق

د مرګ په خوب اوده شول

په حسینې یه ورې بنایسته ګوداګۍ

د کوه قاف بناپېرۍ

ستا حوصلې نه قربان

ستا دې جذبې نه قربان

چې دلاوې په سرو لمبو کښې د هم

ژوند غوښتلو

ژبه د ګونګه نه وه

لکه چې زه ګونګ یم

چې د په زړه څه وو، هغه د اووې

کوم چې زه نه شم وئیلې

ته د مرګ غېږه کښې د ژوند په ارمان

زه د ژوند غېږه کښې د ژوند ارمانی

ستا تصویرونه جوړ شول

ځان د ژوندې پاتې کړو

زه په ژوندونی مړ شوم

ستا خو ارمان پوره شو

زه ارمانی به ارمانی یم داسې

۲۵ نومبر سنه ۱۹۸۵

***

# بغاوت

زما نظر کښې د خلوص نخښې
زما نظر کښې د وفا رنګونه
زما نظر کښې سوده مینه مینه
داسې ځلیږي لکه نمر چې بریښي
داسې رڼا کړي لکه ستوري د شپې
خو ستا نظر دغه لیدلې نهٔ شي
تهٔ د خپل حُسن د غرور په تال
سحر ماښام ځانګې
لکه د زلفو په تال
چې څوک مئین ځانګي
تهٔ تصوّر د خپل ښائست وړې یې
لکه د سیند ځپې
چې څوک په مخه واخلی
بیرته راتللی نهٔ شی

راستنېدلې نهٔ شي
يا څوک په دوغو سترګو
ځان په ړندو حساب کړي
ځان کړي شمکور د ورځې
چې څوک ليدلې نهٔ شي
چا ته کتلې نهٔ شي
د ښاپېرک په شان

دغه تصوير ستا دے
دغه رنګونه ستا دي
چې زهٔ ئې نهٔ شم ليدې
زهٔ ورته نهٔ شم کتې
داسې نظر نه بغاوت کومه
داسې نظرته نور کتې نهٔ شمه
چې بې رخې ترې ځانې
چې بې وفا وي مدام
داسې ښائست ته خفه کېږمه نه
چې د غرور ډک وي
داسې سهرې ته نن سلام کومه
په څو څو واره سلام
داسې لاسونه نور ليدې نهٔ شمه

ځي د ښکريزو په ځاي
دچا په وينو سره وي
په داسې لاسو د بنګړو شرنګار
نور اوريدې نه شمه
نور زه ليدې نه شمه

دابغاوت کومه
دغه جرأت کومه

۵ جنوري ۱۹۷۵ م

***
*

# اختر

نن د اختر ورځ ده ؟
غلی زما په ښنګ کښې
له چا د خلے اوختل
نن د اخـــتر ورځ ده ؟

نۀ ورتـه سوچ واخستم
ما ورتــه فــکر اوکړو
نن د اخــتر ورځ ده؟

مالا دځان سره سوچونه کول
ما لا دځان ســره فــکرونه کول
چې مې ناسایه دخپل ځان په خوا کښې
بې شمېره خلق اولیــد
چې د خندا نــه شنه وو

چې د ځوانۍ مستۍ کښې
نشه نشه ښکارېدل
چا په رنګینو او ښایسته جامو
ځېل سپین لاسونه وهل
څوک په تندۍ تندۍ
زما په خوا کښې، اوړېدل راوړېدل
څوک دیو بل سره وو غاړه غړې
امبارکی وې د اختر ملګرو!
چې چم په چم ګرځې وې
په هر قدم ګرځې وې
خوږه د بت په شان
بس په یو ځای ولاړ وم
ما په اختر باندې سوچونه کول
چې دا اختر لا څه وي
چې دې له کومې راځي
او بیا دې کوم خواته ځي
پرون هم ډېرو خلقو
آسمان ته بره کتل
ما له یو څو تنو، نه
دا یو تپوس کړې وو
دوی بره ولې ګوري؟

دوی راته اووې داسې

هغه د ه میاشت اوخته

سبا اختر دی خوشحالی به کیږي

ډیرې سیالۍ به کیږي

خو زما څنګ کښې ولاړ

څو اوږي تږي کسان

یو څو لغړ سوغړ

واړه بناسته ماشومان

خزان زپلي ګلان

چې په مخونو کښې ئې

یو څاڅکي وینه نه ده

په سر سرتور

په پښو پښې ابله واړه

داسې زیړ بېړ ولاړ دي

په خاورو خړ ولاړ دي

حیران دریان ئې کتل

لکه چې ټول ګونګیان دي

لکه چې ټول کاڼه دي

لکه چې ټول ړانده دي

ما چې دغه اود پرېڼ په حال

ملګرو فکر اوکړ

نو ماته دخپل کلي دخپل محلت
یتیمانان رایاد شول
دچا پلرونو چې سرونه په وطن ایښي وو
دچا په سرو وینو چې اوس هم دا چمن اباد دے
دچا په سرو وینو چې اوس هم دا وطن اباد دے
ماته دخپل کلي دخپل محلت
هغه یو څو خوښدي رایادي شولے
دچا نران او غېرتي رونـــه
چې د وطن پـه ســـر
ددي چمن پـه ســـر
پـه خپل ســـر اړنهٔ وو
ماتـه دخپل کلي دخپل محلت
د دادهٔ شـــوو خوښـــدو
د ســـمو سرهٔ ګلونه مخې ته شول
څوک چې دخپلو مېړنو پـه طمع
دژوند شپې ورځې شماري
چې دادي اوس بـه راشي
او دادي اوس به راشي
ماته دخپل وطن دخوب وطن
دخپل محلت دخپلې کوڅې
دهرې مور ارمان اودرېد و

څوک چې کونټون یېږدي
په ځيګر خون یېږوي
څوک چې دخپلو بچو لارې څاري
چې دادې اوس به راشي
او دادې اوس به راشي
په دغه طمعه طمعه
چې څوک ژوندون یېږدي
دوئ خوشحالي بيږني؟
دوئ په اختر پوهيږي؟

۸، نومبر سنه ۱۹۴۲ ع

* * *
*

# رنګونه

زهٔ په سکني ماښام قسم کومه
زما خوږې محبوبې
اې حیا دارې ښېښتنې محبوبې
چې باران اوورېږي کله
بوډۍ ټال واچوي
رنګونه اوشینډي په غر اوسمه
ګلونه پرانیزي له خوبه سترګې
ډاګې مېرې شنې شي
ازغي هم اوخاندي په للمه زمکه
کرکڼې ساه واخلي داڼې اونیسي
سرې سرې خوږې داڼې
داسې خوږې داڼې
لکه دچا سرې عنابي شونډې
بیا به ماښام پیکه پیکه نهٔ لګي
شفق به هم څه رنګینه راوړي
شپه به بیا دومره تکه توره نهٔ وي

سپوږمۍ به هم څه رڼائې راوړي
د سبا ستورې به آسمان کښې بره
د روڼ سحر په انتظار ولاړ وي
آخر به نمر د غرۀ په سر ښکاره شي
بیا به زنګینو د رنګونو په تهال
بیا به دې زلفې په مخ لوبې کوي
بیا به ریښې ریښې پړونې د تا
په رنګینو کښې د رنګونو پټ شي
مخ به دې سور ګلاب شي او به ئې وینې
دومره به او خاندې خوشحاله به شي
چې په جامو کښې به بیا نه ځائیږې
بیا به رنګونه د بوډۍ د تهال
بیا به رنګونه د شفق په آسمان
بیا به رنګونه د سپوږمۍ او ستورو
بیا به رنګونه د سبا د رڼا
ستا د ښائست په رنګ ته نه شي کتې

۸ / اګست سنه ۱۹۸۶ ع

* * *

# رڼا

د ژوند لمحې که مې بې وسه شي بيا هم ملګرو!
زۀ به په تورو تورو شپو کښې شواخون کومه
په سينه يوون کومه
په کاڼو بوټو په ازغو به ځمه
په لوړو دشتو او مېرو به ځمه
دخپل منزل په سفر
دخپل مقصد په لټون
که ډېر هم سترې شمه
زۀ به دمه اونۀ کړم
زۀ به ګيــله اونۀ کړم
دخپل قسمته چرې
نۀ دخپل ځانه نۀ دخپل جانانه
ما به ناست اونۀ ويــنې
زۀ به روان يم مدام

دخپل منزل په سفر

دخپل مقصد په لټون

زهٔ به دخپلو دمهو سترګو په دنیا دوان یُم

تږي دي بنې توږي شي

سپوږمۍ دې نهٔ راخیژي

ستوري دې نهٔ ځلیږي

نو زهٔ روان به یُمه

دخپل منزل په سفر

دخپل مقصد په لټون

زهٔ به دمه اونهٔ کړم

زهٔ به ګیله اونهٔ کړم

دخپل قسمت چړې

زهٔ دا یقین درکوم

چې زهٔ به ځان رسوم

دخپل مرام حصول ته

چې دپلوشې دنمر راکوزې کړم دغرونو په سر

سپینه دنیا دسباوُن زیږې شي

دخوشحالۍ زیرے

دابادۍ زیرے

د سوکالۍ زړے
دخپل واکۍ زړے
زما د قام د اولس

بیا مې په دارکړئ خپر دے
بیا مې سنگسار کړئ خپر دے

بیا به هله د مه شم

۳/اپریل سنه ۱۹۸۴ء

***
*

# مزدور اوزه

اې زما وروره
اې مزدوره
د زړګی سره
منم چې ته د خوشحالو سره بلد نه ئې
ته د غمونو خوراکه شوې
بنه خبر یمه زه
ولې بې وسه یمه، هیڅ وس زمانه رسیږي
چې ستا د سر نه
دا دروند پېټې په خپل سر واخلمه
زما په سر باندې هم پېټې د غمونو پروت دے
زه هم سحر نه تر ماښامه مزدوری کومه
ځان له خواري کومه
خپل لاس د پښې مې خوراکه دي، بې وسي ده وروره
بنه تنګدستي وروره
دغه مې ژوند دې چې تیریږي تکلیفونو سره
د ډېرو غمونو سره
هم د دردونو سره

* * *

زما ځواني هم ستا په شانِ مزدورو اوخوړه
ډېره خوارو اوخوړه
هم تنګدستو اوخوړه
د ظلمیتوب په خوند خبر نهٔ شومه
پوهه په اختر نهٔ شومه
ستا زېړ زبېخلي رنګ ته اوګورم ډېرا راشي
خو چې شیشه راواخلم
خپل ځان ته اوګورمه
نو د خپل رنګ نه راته ستا رنګ
ښکلې ښایسته ښکاره شي
تهٔ هم انسان يې مشقت کوې
خواري محنت کوې
زهٔ هم انسان یم مشقت کوم
خواري محنت کوم

مونږ د ترخو ترخو اجزاؤ مرکب یو وروره
زما او ستا د ژوند قِصه کښې څهٔ خوا ږهٔ نشته دے
تهٔ هم مزدور يې مزدورکار يې مزدوري به کوې
زهٔ هم مزدور یم مزدورکار یم مزدوري به کوم

"قند" مردان

اکتوبر / نومبر سنه ۱۹۷۲

* * *

# تپوس

زړهٔ راډک شوي دے ژړا راځي
خو ژړا خندګه اوکړم
خندلي هم نهٔ شمه
شونډي مې بندې ژبه هم نهٔ خوزي
ګـني هرڅهٔ ویـیلي شم
خوارهٔ تراخهٔ ویـیلي شم
خو بیا هم هیڅ نهٔ وایم
لهٔ دې سببه چې رښتیا به وایم
صفا صفا به وایم
خو رښتیا لا تراخهٔ دي
دروغ ویـیلي نهٔ شم
ځان شرمولي نهٔ شم
سر ټیټولي نهٔ شم
حریان په دوه کښې یمه
چې کومه لار اوکړمه
کهٔ مقام غواړمه دروغ به وایم
کهٔ رښتیا وایمه په کانو لګم

دا فیصله په تاسو!
خپله تپوس کومه
تاسو رښتیا ویېلی شئ؟
صفا صفا ویېلی شئ؟
تاسو خاموش ولې شوئ؟
ماله ځواب راکړئ
یا راته "هان" اوکړئ
یا راته "نا" اوکړئ

چې خپل ضمیر راویښ کړم
یا ئې ځپله مړ کړم
یا شونډې بندې اوګنډم
یا شونډې پرانیزمه
چې پرې رښتیا اووایم
صفا صفا اووایم
داسې صفا صفا
چې خلقه لوټ شو مونږه
د غاصبانو په لاس
د شوکمارانو په لاس

۲۳ ، نومبر سنه ۱۹۸۵ ء

***

# جدائي

"څه چې يوځل شو مونږ ه دواړه پردي".
نه به زه تا پېژنم
نه به ته ما پېژنې
"څه چې يوځل شو مونږه دواړه پردي"
هغه دميني څو پاڼه لوظونه
هغه خوږه يادونه
بس دي ټول هېر کړه آشنا
نه به زه تا پېژنم
نه به ته ما پېژنې
"څه چې يوځل شو مونږه دواړه پردي"
هغه دسترګو په بڼو خبرې
چې تا به ما سره په غلا کولې
د زماني له ويرې
څه عجيبه وخت وو
څنګه ښائسته وخت وو

خواوس هغه وختونه
زاره ُ زاره ُ نګی
بدل بدل ښکاریږي
دغه ټول هرکه آشنا
نه ُ به زه ُ تا پیژنم
نه ُ به ته ُ ما پیژنې
" څه چې یو ځل شو مونږ ه دواړه پردی "
آستا د سرو شونډو په سر خبري
خوږ ې شکر خبري
اوس هم په سترګو کښې غږیږي راته
ښه ُ رایادیږي راته
داهیرومه آشنا
زړه ُ صبرومه آشنا
نه ُ به ته ُ ما پیژنې
نه ُ به زه ُ تا پیژنم
لکه چې څه رنګ ښوا وُو مونږ ه
چې نه زه ُ تا پیژندم
او نه ته ُ ما پیژندې
" څه چې یو ځل شو مونږ ه دواړه پردي "
قدر د مینې کوم
له زړه ُ د تل وایم

خو وخت بدل بنکارېږي
فضا څهٔ بل شان ده
په دې کښې مېنه نهٔ شي
ستا په وفا مې قسم
ستا دحيا نه لوګے
ستا ننګ ناموس غوارمه
ستا عزت خپل ګڼمه
چې د استا پاکه لمن
له زمانې دلاسه
چرته خيرنه ، نهٔ شي
چرته کښې توره نهٔ شي
له دې سوبه اشنا
نور زهٔ تا نه پېژنم
په زړګي ګټه بددمه
اوس پردي کېږو آشنا
اوس جدا کېږو آشنا
مانه خفه چې نهٔ شې!

۲۷ اکتوبر سنه ۱۹۷۲

***
*

# نغمه

زما د زړهٔ په مات رباب تارونه مه سوروه
دې نه آواز نهٔ خېژي
د دې نغمه څوک اورېدلې نهٔ شي
په دې رباب باندې یو څو تارونه
چا په نازکو ګوتو
په سودګیرنه د زړهٔ
په مینه مینه وو ترلي یو ځل
چې په نوو نوو سروګوتو به یٔ
دغه چېړل همېشه
هم سوروول همېشه
په دې غرض چې زړهٔ خوشحاله کړي خپل
او زما زړهٔ خفه کړي
په دې رباب کښې بس یوه نغمه
یوه خوږه نغمه
یو دردېدلې نغمه
داسې اوده پرته ده
چې اوس هم کله کله

ماته یا دیــږي داسې
راته غږیږي داسې
لکه چې دا نغمه
لکه چې دا سندره
د غره په خوا کښې
د ښنې او نې لاندې
ما اوریدلې چې وي
نو اوس هغه نغمه
په نوي ساز نوي آواز کښې اوډم
زما د زړهٔ د رباب
تارونه او شوکیدل
فنکار له مانه ستړکي واروله
نو ګلي تاته وایم
چې په دې مات رباب
تارونــه مهٔ خېژوه
سازونه مه غږوه
تهٔ به هم ستړکي کړې یو ځل بدلے
بیا به مانـهٔ پېژنې
ځکه دبلې نغمې
تاب زړهٔ کښې نهٔ لرمه

* * *

# ائينه ماته شوه

ته په خزان کښې مانه طمعه د ګلونو کوې
د خپل اوربل د پاره
چې په قطار قطار یې کیږدې پکښې
بیا په ایښن کښې ورته ګورې غلي
یو ګل ترې یو خوا ته کړې
بل ګل ترې بل خوا ته کړې
په نزو سرو ګوتو
څومره د ځان سره خوشحاله یې ته
ورته په شونډو دې مسکا څوره شي
زه درته غلي غلي ګورمه پټ
چې دا په تا څه اوشو
ته لاهم هغسې په مغز آئینه کښې ګورې
خواله دې غلي غلي راشمه زه
خو په اوربل کښې د ګلونه نه وي
نه د ګلاب نه د شرشم ګلونه
نه د غانټول نه د ریدي ګلونه
نه د خزان نه د سپرلي ګلونه

په اسوېلو مې ستا په لاس آئينه
ړنده شي خړه شي حېرانه شي ته

بيا پکښې ځان نهٔ وينې
هم پکښې ما نهٔ وينې

زهٔ دې په څنګ کښې هم حريان دريان
لکه د بُت او دريږم

نا سايه مړې سترګې په مړو بڼو کښې
ما ته راواړوې ته

ستا آئينه د لاسه اوغورځيږي
کړنګ شي او ماته شي ټوټې ټوټې شي

داسې زړې زړې شي
لکه چې زړهٔ مات شي

لکه چې زړهٔ ټوټې شي
لکه چې زړهٔ زړې شي

۷ ستمبر ۱۹۸۵ ء

* * *

*

# مرام

زما په سترګو کښې رڼا واچوئ
زما د سترګو نه تيرې لرې کړئ
زما د سترګو نه پردې لرې کړئ
زما په سترګو کښې رڼا واچوئ
چې هر څه اووينمه
چې هر څه اوګورمه
د حقيقت په سترګو
د صداقت په سترګو
بيا به هله درته رښتيا اووايم
بيا به هله درته صفا اووايم
زما خوږو ملګرو !
اې ښو ښو ملګرو !
اې حق پرستو !
حق ديوونکو زمرو !
زما په سترګو کښې رڼا واچوئ

زما دستر ګو نه تيري لري کړئ

زما دستر ګو نه پردې لري کړئ

چې تود ته تود اووايم

او سپين ته سپين اووايم

چې دا وريځ اونغلي

او شين ته شين اووايم

دا مې مقصد د ژوندون

دا مې ارمان د ژوندون

دا مې مرام مه ګروا!

۱۸ اګست سلمه ۱۹۹۲

*

***

# زما جانانه بې وفا جانانه

په مودو پس چې ماهغه اوليده
خدائې شته چې ډېره مې خفه اوليده
په جدائۍ باندې زما خفه وه
په مخ يې کرښې دخفګان ښکارېدې
وې يې چې ډېر ډېر يادېدې مې آشنا
دخيال په بڼ کښې الوتې مې آشنا
خوب مې دسترګو نه وه کډه کړې
په شوګيرو کښې اوسېدې مې آشنا
تاته زهٔ چرته يادېدمه آشنا
اوس به بيا هم ددې دپاسه آشنا
ژوندون له ما ځني جدا تېر وي
اوس به هم بيا ددې دپاسه آشنا
ژوندون يواځې په خندا تېر وي
کهٔ رښتيا داسې وي دوستي اشنائي
چې يو خوشحاله بل په اور کښې سوزي

نو بیا خو دا سوده دروغ دي اشنا
چې دیو زړه نه بل ته لاړوي تلے
زما د ژوند د حاد ثو جانانه
مانه به څو پورې جدا ګرځې
یواځې څو به په خندا ګرځې
دا پښتو نه ده غیرت نه دے
چې زه به تل ستا د فراق په اور کښې
داسې سوزېږمه یواځې آشنا
داسې ټولېږمه یواځې آشنا
زما جانانه بې وفا جانانه
ته په خندا خندا زمونږ په کوڅه
په پټه چې راځې
د ناغرضو په شان
زه درته ګورمه د ور په وټ کښې
چې څنګ ناشنا کړې تا اشنا ستړګې
زه خو په دې باندې پوهېږمه نه
چې ته د مینې تشریح څنګه کوې
چې ته د مینې معنی څه اوباسې
په جفا کاره زما خوږه آشنا
دا په تا څه چل اوشو ؟

څې زهٔ دِ داسې په دې چولې مېدان

يواځې ځان له داسې پرېښودمه

ددې دپاسه بې وفا جانانه

ستا نه پښتنه کوم

په انتظار درته نېه لار اودرېږم؟

کهٔ نه رسې دمينې اوشوګېدې

ستا دخوښې کوکې به څهٔ جواب راځينه

زما جانانه بې وفا جانانه

۳۱ رمئ سنه ۱۹۹۴م

*

* * *

*

# آوازونه

سحر شي
ماښام شي
شپه هم داسې تېره شي
بيا سحر راشي
د ژوندون څرخ
لکه د جرندې د پل
تېز تېز چورلېږي
عمر د باد هسې تېرېږي
واړه زلمي شي
زلمي د ژوند په پوړو
رو رو کوزېږي
بيا هم د ژوند په خوړو
څوک نهٔ مړېږي
دغه نظام دے
دغه دستور دے

چې داول نه
بنهٔ منظم دے
چې تر ابده بدل به نهٔ شي
نو افسوس دارې
چې دې نظام کښې
انسان بدلیږي
انسان خرڅیږي
تمکي توري ده
بس یو ترسله
وخت تېرول دي
خلوص عنقا دے
فریب سهوا دے
هر سړے ړوند دے
هر سړے کوڼ دے
یو ځان ځاني ده
ضمیر هم ړوند دے
نهٔ څهٔ لیدې شي
نهٔ اورېدې شي
ددې دپاسه
بیا هم فضا کښې
څو آوازونه خیژي

لکه د غره د سره

څوک چاته چغې وهي

چې دردولي پیدا کړي

مینه خلوص پیدا کړي

چې تربګنۍ ورکې شي

او بیا د غه "اوازونه "

په فضاء کښې ډوب شي

او یوه خاموشه خاموشي خوره شي

*

* * *

*

# د کابل بنار

زما د ښکلي بنار د حُسن جنازه اووته

د هغې بنار

چې د ښایست یې نندارې کېدلې

د هغې بنار

چې په صفت یې خلق نهٔ مړېدل

سپېلانو خپل زړونه بایللي وو ددهٔ په حُسن

د وطن والو د آرام او خوشحالۍ بنار وو

د سوکالۍ بنار وُ

د مزدورۍ بنار وُ

دلته کښې څهٔ وُ چې به نهٔ وو اې زما ملګرو!

د انګورانو او مېوو دلته دلۍ پرتې دے

سړې ګرمې به ددې بنار

زهٔ څنګه هېرې کړمه

د ښاپېرو د بنار

د مېړنو د بنار

د شاه زلمو د بنار

داچې اوس لوټې لوټې پروت دے

اې زما ملګرو!

دا د کابل بنار دے

دا مې زړګې

دا مې نظر

دا زمونږ خپل بنار دے

۱۱ر اکتوبر سنه ۱۹۹۴ء

★

★★★

★

د

# حمزه بابا په یادکښې

**یادګیرنه:-** دا نظم په ۱۱ اکتوبر ۱۹۹۴ء د پښتانه ټیکوال پښتونخواد سیوریځ لاندې د حمزه سیمینار په موقع په نشترهال پېښور کښې ما اوږدلې دۀ . (ارمان)

د لوړو دنګو غرونو دنګې سوکې
تیتې شوې ، راښکته شوې
د خیبر ځګه شمله ، هسکه شمله
مړاوې شوله او غوړزېدله
یو داسې غم راغلو ، ماتم راغلو
یو انګولا جوړه شوه شور جوړ شو
لکه چې اور د چا په کور اولګي
او خلق چغې وهي
ماشومانان ژاړي
تول مسران ژاړي
او هم ځوانان ژاړي
داسې یو اور زمونږ په کور اولګید

یو داسې اور چې د خیبر نه تر بولان پورې
افغانستان پورې
هرخوا لمبې خورې شوې
د رڼا سترګې په لوګو ډکې شوې
د رڼا سترګې په ژړا سرې شوې
د شاعرانو ادیبانو زړونه
د مئینانانو زړونه
او درېدل او ترقېدل
د مراد[1] زړه مات شو ټوټې ټوټې شو
دلسوز[2] د خیال نیلي نه او غورزېدو
د داور[3]خان له سترګو وینې توې شوې
راج[4] ولي شاه خټک بې دمه پرېوت
خیبر[5]، ناظر[6]، ځیګر[7]، ساحر[8] افریدے
هم یار محمد[9] مغموم
په هایې سوران او په ژړا سرشول

---

[1] مراد شنواري د حمزه صاحب زوی [2] داد محمد دلسوز
[3] پروفېسر داورخان داؤد [4] ډاکټر راج ولي شاه خټک
[5] خیبر افریدی [6] ناظر شنواري
[7] ځیګر افریدی [8] زینت شاه ساحر آفریدي
[9] پروفېسر یار محمد مغموم

يو زلزله راغله په کور د پښتون

آسمان هم اوګړزيدو ، اوڅړيدو

بس يوه چغه وه خوره شوه د ځنګل اور وو

چې د خيبر دلوړ دنګو غرونو

د پښتونخوا د سيمې

د غزل پلار خفه شو

هغه ماليار خفه شو

چې د حجاز په سفر

د پښتنو د قافلو سره تلو

د مېړنو سره تلو

هغه ماليار هغه بابا د غزل

چې د غزل زمکه يې ښکلې کړه

رنګينه کړله

د خپل زړګي په وينو

په دې غرض په دې مقصد مګرو !

چې د پښتو غزل زلمې شي ځوان شي

او ښه رنګين شي غزل

چې لونګين ښايسته کړي

هم يې جبين ښائسته کړي

په رنګينو د غزل

په پلوشو د غزل

چې د جرګو او اسوېلو خبرې

چې د پښتو او پښتنو خبرې

د اننګو او د ښهنو خبرې

ښکلې ښائيسته شي د پښتو په غزل

هغه ماليار خفه شو

هغه دلدار خفه شو

چا چې سنګار کړه محبوبه د غزل

هم په مطلع د غزل

هم په مقطع د غزل

هغه بابا خفه شو

امير حمزه خفه شو

راځئ چې ورشو په جرګه ورسې

امير حمزه بابا لا

چې دې په څه خفه شو

چې ترې معافي د خپل تقصير او غواړو

۱۱ / اکتوبر ۱۹۹۲ سنه

★

★★★

★

# څلې

دخپل خوږ او ګران ملګري محمد شریف ستانه دار په یاد
کښې دا نظم د عقیدت او احترام په توګه وړاندې کوم. باید
چې د هغوی سره د دوستۍ او ملګرتیا څه نه څه حق پوره ادا
شي او د هغه روح ته پرې سکون او رسي. (ارماني)

ستا په سپېڅلي ځوانۍ
یوه نغمه لیکمه
یو دردېدلې نغمه
چې له حسرت ډکه وي
چې په ژړا وي مدام
چې د مرګي غږه کښې
ورله خوب سترګي سکونږي
یو بې ارامه نغمه
داسي نغمه
لکه هوسي په ښېښتون وي مدام

چې ورځ یې لا سخته وي
او شپه یې هم وي په داړ
داسې نغمه بیکمه
چې د شریف د ځوانۍ
یوه رڼه شیشه وي
چې دهغه دژوند یو روڼ عکس وي
چې دهغهٔ ښایسته او ښکلې سهره
ورپکښې او ځلیږي او پرقیږي
هغه سهره هغه ښایسته سهره
چې له خندا ډکه وي
لکه ګلونه په خندا وي مدام
لکه سپرلی چې خاندي
هغه سهره هغه ښایسته سهره
آغنم رنګې سهره
چې دهغهٔ بریتونه
ورپکښې تاؤ راتاؤ وي
هغه سهره
چې د ځوانۍ او مستۍ په تال
جوتې جوتې وهي زنګیږي مټ
هغه سهره
چې شرافت ترې څاڅي

مینه او پت ترې ځاځي

هم صداقت ترې ځاځي

هغه سهره

چې په درزا کړي زړونه

هغه سهره

چې دځوانۍ مستۍ کښې

په ګړاګانو سروي

په خنداګانو سروي

لکه د میو پیاله

چې په خنداشي په ګړاشي

داوړي

داسې نغمه بیکمه

یو دړدیدلې نغمه

چې د شریف مسته ځواني پکښې

هر څوک اوویني

چې د هغه خوانده خوانده ملګري

اوګړوي او درد ډوی

چې دغني زړګي ارې ارې کړي

چې د جمیل زړګې ټوټې ټوټې کړي

چې رحیم داد ورته د اوښکو په ځای

سترګو نه وینې توئ کړي

داسې نغمه
چې د شریف ستانه دار
د نوي ژوند
د سرې ډولۍ په ورځ
د هغه په غم غمژن
د هغه خوب ملګرې
محمد اسلام ارماني
داله ډنډ ډېرې ده نه
په شرق باران کښې راشي
د بدرګې په خوا کښې
د هغوئ کلي "ستانه دار" ته
په ژړا ژړا

او په مزار ئې په زار زار اوښاري
په ښکلي مخ د جانان
د سپینو او ښکو باران او دروی
لکه چې سپینه سپینه پرخه په ګلونه اوري
نغمه د سوز ډکه کړي
د موسم رنګ کړي بدل
چې د اسحاق لاله په سترګو کښې
ګلان زرغون کړي
چې د امیر ارمان ریزه ریزه کړي

چې د ظريفؒ په مخ دغم کرښې خورې ورې کړې
چې تجيرؒ گل او همايونؒ دواړه د خيال نيلي نه
ناسايه او غورزيږي او دړديږي
چې سکندرؒ دخپل احسان سره
د صوابۍ نه راشي
او دخپل يار په خلي
ترمې ترمې او ښکې توئ کړې
نغمه د سوز ډکه کړې
او په ژړا ژړاکښې
د شريف خان ستانه دار
د خوانۍ تول زاړهٔ خوانهٔ يادونه
د مستۍ تول خوانهٔ سازونه
په يوه خوږه نغمه کښې
داوړې راواوړې
تول ياران دوستان
د ملاکنډ ملگري
د الله ډنډ ملگري
په گډه الانو سر کړي
رحم غنيؒ خان راشي حېران اودريږي
او يو تپوس اوکړي
چې دا د چا "خلے" دے

چرته د لرې یو آواز راشي

دا د شریف ستانه دار

ورته ټول لاس په دُعا

په احترام اودریږي

او بیا محفل خورشي

سیلۍ راوالوزي د یوې مړې کړې

◎

[1] ډاکټر غني د شریف مشر ورور [2][3] جمیل او رحیم داد د خدائ بخښلي نور ورونه

[4،5،6] اسحاق لاله، امیر محمد او ظریف د شریف د تره ځامن .

[7-8-9] تجبر ګل، همایون، سکندر حیات . د شریف دا کاوُنټي آفسر ملګري

[10] پروفیسر احسان انجینیرنګ یونیورسټي پېښور

[11] رحم غني خان د پټي اکاوُنټنټ جنرل پېښور چې اوس وفات شوی دی .

# فیصله

یادګیرنه:- دا نظم ما د خپلې حلقې د قومي اسمبلۍ د ضمني اېلکشن په موقع په کال سن۱۹۷۰ء کښې لیکلے دے نظم څو زوړ دے. ولې حالات او واقعات ئې لا هغه شان تازه دي او هیڅ بدلون پکښې نهٔ دې راغلے. (ارمان)

دا چې قدم په قدم چغې دي غوبمه جوړه ده
لاړو کوڅو او په بازار کښې لوبه سره جوړه ده
دا څنګه حال دے څنګه چل دے هر سړے ګرم دے
څوک مداري جوړې راغلي دے جلسه جوړه ده

پرون هم دغسې جلسې وې جلوسونه به وُو
په هر یو ځائې کښې سیاسي مصلحتونه به وُو
تا له به دا درکړم تهٔ دا واخله خو ووټ راکړه
د هر لیډر سره د سیټ ګټو فکرونه به وُو

حجرې جماعت لارو کوڅو کښې شريفان ګرځېدل
سوداګري وه د دوتنو دلالان ګرځېدل
چاۍ په عمر کښې د مخ بشرې ليدلې نه وه
داسې سپين روبي ښکلي ښکلي مشران ګرځېدل

•

نن هغه خلق بيا هر ځاۍ کښې غريبان تېرباسي
په پسته ژبه کونډې رنډې يتيمان تېرباسي
ورله يوه يوه انه ورکړي واۍ چغې وهي
عجيبه خلق دي واړه ماشومان تېرباسي

تېر ځل هم داسې وعدې اوشولې اوه تېرشولې
د سيند چپې وې بس په مخ باندې تېرې شولې
هيڅ ديو غريب په حال باندې ژړا اونه کړه
هيڅ ديو مظلوم په زړه ملګرتيا اونه کړه

تشې په خله خبرې اوشوې مدعا پوره شوه
د دوتېرانو د سرونو ښه سودا پوره شوه
مونږه ووت ورکړو ممبران او وزيران جوړ شول
د معمولي خلقو نه لوۍ لوۍ ليډران جوړ شول

خو زمونږ حال بس هغه زوړ دے بدل شوي نهٔ دے
انګرېز هغه شان له سوړ دے بدل شوي نهٔ دے
هغه زمونږ په غم غمژن په خوارهٔ خوب پراته دي
زمونږ دپاره هغه پوړ دے بدل شوي نهٔ دے

مونږ د سحر نه تر ماښامه مزدوري لټوو
مونږ په منت زارۍ خپل ځان لره خواري لټوو
شپه مو لا سخته وي د ورځې هم آرام نهٔ مومو
ښه که ښه باندې راواچوو طعام نهٔ مومو

دوه روپۍ اوګټو د درېمې په تکل کښې ګرځو
د کوره لرې د میلونو په مزل کښې ګرځو
په دوه روپۍ باندې به مونږ آخر څهٔ واخلو
په دغه فکر اسویلي ساړه واخلو

د کوړې نوم خو په قسم کور اخستلې نهٔ شو
د ماشومانو بچو کړیکې نور زغملې نهٔ شو
چائې دې سر او خوري خو د ګېډې تنور نهٔ ډکیږي
د دوو روپو په مزدورۍ داه کولې نهٔ شو

اوس دا رپورټ ربه د چا په عدالت کښې اوکړو
په هائی کورټ کښې که ئې ستا په عدالت کښې اوکړو
مونږه نهر به یو ترکومې ستا فراخ رزق کښې
ژړا فریاد د کوم آقا په عدالت کښې اوکړو

مونږه خوستا د فیصلې په انتظار یو ربه
ګنی قسم د ے چې د دې ژوند نه وېزار یو ربه
ولې په تا باندې مونږ حق د بندګۍ نهٔ لرو؟
مونږ دې سماج کښې خپل مقام د ژوندګۍ نهٔ لرو؟

دوئ هم زمونږ پشان بندیان دي انسانان دي ربه
نو څوک سرهٔ سپین دي څوک غټ غټې نوابان دي ربه
مونږ په جونګړو کښې اوسیږو بیا هم تا یادوؤ
دوئ په بنګلو کښې هم له تا نه غافلان دي ربه

اوس حق په تا دې حق ربه حق له چا اوغواړو
ستا لهٔ بندیانو که نه لویا ربه ستا اوغواړو

* * *

# ملګرو نهٔ څو

# پښتورته نهٔ څو

ملګرو نهٔ څو پښتورته نهٔ څو
هلته لوبي دي دبارودو بوئ دے
غوښې ورتيږي په اورونو باندې
هم په بمونو باندې
هلته ګلونه ريږي
دلې ارزه غټه کيږي
دلې وسه غټه کيږي
قصّه خوانئ کښي اوس قِصّې نشته دے
هغه مېلې نشته دے
صدر کښې لا ويره ده
يو ځائ هم امن نشته
ژوند ته خطرې پېښې دي
ډيرې لا بجې پېښې دي
هم حادثې پېښې دي

سړې به چرته کښيني

چې ځو خبرې اوکړي

د رازونيا ز خبرې

اخر داځه چل اوشو

آخر داځهٔ دي دابه څهٔ کيږي

چې هر سړې يو بل نه ويره کوي

چې هر سړې په يو بل شک کوي

چې دا "فـــلاني" خونـهٔ دے

هغه "فـلاڼې" خو نـهٔ دے

هغه قاتـل هغه ظالم انسان

هغه بمونه چې ږدي

چې انسانان وژني

ښايسته ځوانان وژني

ماشومانان وژني

ښکلي ګلان ديڅوي

پېغلې مې هم په ښائسته سرو منګولو

پخپلو سرو وينو کښې لامبي دلتـه

چې ناوې توب ئې هم ليدلے نهٔ وي

نکريزې ئې هم لا اينبودلے نهٔ وي

چې خپل ارمان ئې هم کتـلے نـهٔ وي

دا ظالمان څوک دي؟

دا قاتلان څوک دي؟

چې دومره ظلم کوي

چې په ښسو تکو خپل روښه وژني

دا اجرتي قاتلان

دا شرمخان څوک دي؟

دا داسې سوال دے چې جواب غواړي

د هغه سرو وینو حساب غواړي

چې په سړکونو مارکېټونو ئې خپل رنګ خپرېښودو

تاسو په دې خبره غور اوکړئ

تاسو په دې خبره فکر اوکړئ

وخت نن زمونږ نه دا پښتنه کوي

چې ښبنور په وينو سور ولې دے؟

صدر کښې ولې قتلِ عام جوړ دے؟

دا مونږ په څه ګناه په کوم تقصير؟

ټخيلو وينو کښې لمبيږو دلته؟

بس دا پښتنه دا تپوس کوو

کني نو بيا به پښنور ته نه څو

ملګرو! نه څو پښنور ته نه څو

۱۹، مارچ سنه ۱۹۹۳ء

* * *




"کوډاکی" دا هغه وره ماشومه جینی ده.د چا پحقله چې تاسو دې کتاب کې نظم الوستو دا تصویر زه د خپلو خوږو ملګرو ډاکټر جلیل افریدي ډاکټر مقصود او ډاکټر پرویز په مننه چاپ کوم دا تصویر ماله همدې ملګرو ډاکټرانو راکړی وو. "ارماني"

## د ليکوال تخليقي اثار

- دا کاني او دا کوڅې. — شعري مجموعه (چاپ)
- د رڼا سیوري — نعتيه کلام (چاپ)
- ياران هيڅ نه وايي — شعري مجموعه (چاپ)
- خلق څه وايي؟ — افساني (زير طبع)
- ګېډۍ د ګلو — ادبي مضمونونه / مقالې (زير طبع)
- خپله خاوره — نظمونه (زير طبع)
- زما په نوم — ادبي خطونه (زير طبع)

**انعام يافته**

پاکستان رائټرز ګلډ، پاکستان
مجلس فکر و ادب، مردان

# مصنف د ليکوالو په نظر کې

*پروفيسر داور خان داود*: د ارماني نظمونه ښکلي او د نظم په ټول ښورد دي. خو ارماني بنيادي لحاظ سره يو غزل گو شاعر دی او د هغه مزاج د غزل د پاره زيات موزون دي. خو زما په خيال که د پابند نظم په ځای هغه په آزاد نظم طبع ازمايي اوکړي. نو ګېډی شي. چې د هغه آزاد نظم لکه د غزل د فن معراج ته اورسي او زما د دې خبرې ثبوت د هغه آزاد نظم "تکل" دی کوم چې د هغه په شعري مجموعه "دا کاني او دا کوخې" کښې چاپ شويدی.

تبصره: "دا کاني او داکوخې" اباسين پېښور (جنوري ۱۹۹۷)

❋ ❋ ❋

*ډاکټر فضل دين خټک*: د ارماني صيب د آزاد نظمونو يو خپل انداز دی. په هغو کښې ربط هم شته تسلسل هم لري او هر يو نظم يې يو خاص مقصد او پيغام لري.

پېژندګلو: "ياران هېڅ نه وايي" (۲۱ ستمبر ۱۹۹۷)

❋ ❋ ❋

*رحمت شاه سائل*: د ارماني آزاد نظم د هر څه نه آزاد نه دی. د ده په آزاد نظم کښې چې د آزاد نظم کومې پابندۍ دي ده د هغې تولو پوره پوره خيال ساتلی دی د ده آزاد ننظم په لوستو کښې خوږ او آسان راځي، چې يو ځکښې د "لې" خيال ساتلی شوی دی او بل ځکښې ابهام بيخي نشته.

اقتباس "مينې چې کوم طرف ته مخ کړی انقلاب راولی" (۲۳ دسمبر۱۹۹۹)

❋ ❋ ❋

*پروفيسر محمد همايون هما*: محمد اسلام ارماني د فن په کوڅو کښې د احساس په کانريزه مزکه د يو اوږد تږ نه پس دا دی داسې يو پړاو ته راورسېدو، چرته چې د هغه شخصيت د پښتو د ادبي نړۍ د پاره رڼا شوی ده او شاعري يې د ژوند د ارمانونو او رومانونو داسې سېوری، پيتاو چې اهميت به يې ارو مرو منلی کيږي. ډېر څه به نړې اوونيلي شي او اوس به د هغه دا ګيله چې "ياران هېڅ نه وايي" بيخي ورکه شي.

"هسکه مينه" شيخ ملتون مردان (۱٦ فروری ۱۹۹۸)

چاپخې: دانش کتابتون قصه خواني پېښور - ۲۵٦۴۵۱۳